بریا د ټولو هیله

د رسنیو او مطبوعاتو څانګه

نهم کال، لومړۍ ګڼه | جنوري - مارچ | ۲۰۲۳ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنيو او مطبوعاتو
څانګه
دري مياشتنۍ مجله
جنوري - مارچ | ۲۰۲۳ کال

مسوول مدير: عبدالله خان پکتانی
ليکوالان او راټولوونکي: مکيم الله احمدزی او خپلواک دريځ
عکس اخيستونکي: ناصر علي خان او سيد حسرت سادات
ډيزاين: احمد ذبيح رامين

AfghanistanCricketBoardOfficial
ACBDomestic
ACBofficials
AcbDomestic
afghanistancricketboard
AfghanistanCricketBoardOfficial
www.cricket.af

ليکلړ

۱	سرمقاله	۱
۲	افغانستان متحده عربي اماراتو ته د شل اوريزو سياليو په لوبلړۍ کې ماتې ورکړه	۲
۳	حميد حسن د ملي لوبډلې د توپ اچونې روزونکی وټاکل شو	۴
۴	د پاکستان پر وړاندې د افغان اتلانو تاريخي بريا	۶
۵	توافقنامه همکاری بين کرکت بورد افغانستان و امارات متحده عربی امضا شد	۱۶
۶	کرکت اوينچيسی مراد علی ترکمن بيلن صحبت داشليق	۱۷
۷	په افغانستان کرکټ بورډ کې د لوبغاړو جېم او د درملنې نوی مرکز بیاځلي ورغول شو	۱۸
۸	د افغانستان کرکټ بورډ د بورډ غړو ترمنځ کلنۍ عمومي ناسته ترسره شوه	۱۹
۹	ننګرهار ب لوبډلې د لومړۍ درجه ولايتي سياليو اتلولي خپله کړه	۲۰
۱۰	د افغانستان د کورني کرکټ سياليو مهالوېش	۲۴
۱۱	افغان ستوري ډک لاس هېواد ته راستانه شول	۲۸
۱۲	د ميچ ريفري پېژندنه، دندې، صلاحيتونه او مسووليتونه	۳۲
۱۳	د کرکټ نړيوالې شورا د شل اوريزو سياليو په درجه بندۍ کې د افغان اتلانو د سلطنت پيل	۳۸
۱۴	د کرکټ نړيوالې شورا د راتلونکې سفرونو د پروګرام له مخې د افغانستان راتلونکې سيالۍ	۴۰
۱۵	د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۲م کال کلنۍ راپور چاپ شو	۴۲
۱۶	د نولس کلنې ملي لوبډلې له توپوهونکي وفي الله تره خيل سره مرکه	۴۴
۱۷	Afghanistan Born-Former Indian Test Cricketer Died Aged 88	۴۶

سرمقاله

افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۳م کال له پيل (جنوري-مارچ) پورې د خپل پلان له مخې په پام کې درلودل، ترڅو روان کال د ټولو اړوند برخو لپاره يو له لاسته راوړنو او برياو ډک کال واوسي، څکه تېر ۲۰۲۲م کال د ټولو هغو نيمګړتياو پر لرې کولو تېر شو چې د اداري لپاره ننګونې او خنډونه وو.

سږ کال د پلان پر بنسټ له هره اړخه ډېر غوره روان دی، د متحده عربي اماراتو پر وړاندې له لوبلړۍ رانيولې؛ د پاکستان پر وړاندې تر سترې بريا پورې او دغه راز لا ډېرې برياوې او وياړونه په مخ کې دي او افغانستان کرکټ بورډ به له سترو هېوادونو سره لوبې ولري. همدارنګه په اداري برخه کې هم ډېرې لاسته راوړنې يو په بل پسې ترلاسه شوې او لا هم لړۍ روانه ده.

له متحده عربي اماراتو سره د همکاريو پنځه کلن هوکړه ليک لاسليک شو چې بر بنسټ به يې افغانستان کرکټ بورډ ته له مالي اړخه ډېره اندازه پيسې سپما کېږي او کرکټ بورډ به پر خپل کوربه توب ټولې سيالۍ له دې وروسته په متحده عربي اماراتو کې ترسره کوي. د بازارموندنې او رسنيزو حقوقو له لارې تر اوسه ډېرې پيسې ترلاسه شوې دي او له سترو کمپنيو سره تر اوسه غوره او له لاسته راوړنو ډک هوکړه ليکونه لاسليک شوي دي.

دغه راز اداري جوړښت هغه څه و چې د اداري له لوري بشپړ او د بورډ غړو له لوري تاييد شو، دغه هم يوه لويه لاسته راوړنه وه چې اداري يې له ډېر وخت راهيسې انتظار اېست او ورته مهال د بورډ له غړو سره وخت په وخت ناستې او مجلسونه ترسره کېږي، ترڅو هر څه په روڼ ډول ترسره شي.

په پای کې بايد وويل شي چې کرکټ بورډ به روان کال د سياليو له اړخه بوخت کال ولري او دغه راز به له اداري اړخه هم ډېرې لاسته راوړنې وي. افغان لوبډله به ډېر ژر له سريلانکا سره درې پنځوس اوريزې سيالۍ ولري، له هغه وروسته به بنګله دېش ته ولاړه شي، ورپسې به له هندوستان، بيا له پاکستان سره سيالۍ ولري او بيا به همدارنګه اسيا جام او نړيوال جام ته لوبډله روانيږي او وياړونه به راوړي.

درنښت

اداره

افغانستان متحده عربي اماراتو ته د شل اوريزو سياليو په لوبلړۍ کې ماتې ورکړه

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د روان کال په فبرورۍ مياشت کې د درې نړيوالو شل اوريزو سياليو د لوبلړۍ په موخه متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ ترڅو له کوربه لوبډلې سره د فبرورۍ له ۱٦مې تر ۱۹مې نېټې درې نړيوالې شل اوريزې سيالۍ ترسره کړي. افغان اتلانو د يادې لوبلړۍ په ترڅ کې خورا ښې لوبې وکړې او سيالې لوبډلې ته يې ۱-۲ ماتې ورکړه او د سياليو جام يې په خپل نوم کړ.

افغان اتلانو د يادې لوبلړۍ په لومړۍ لوبه کې د لوبډلمشر راشد خان او عظمت الله عمرزي د غوره توپ اچونې پرمټ سياله لوبډله تر ۱۴۲ منډو ايساره کړه او بيا يې د کريم جنت او افسر خان ځاځي د غوره توپوهنې پر مټ سيالې لوبډلې ته د ۵ ويکټو په توپير ماتې ورکړه. کريم جنت، چې په دغه لوبه کې يې ۵۳ مهمې منډې جوړې کړې وې، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

افغان اتلانو د يادو سياليو په دويمه لوبه کې د ۹ ويکټو په توپير ماتې ومنله، خو په دريمه لوبه کې يې د يوې بهترينې لوبې وروسته کوربه متحده عربي اماراتو کرکټ لوبډلې ته د ٦ ويکټو په توپير ماتې ورکړه او دغه لوبلړۍ يې په خپل نوم کړه. افغان لوبډلې په دغه لوبه کې لومړی توپ اچونه وکړه، راشد

خان او ګلبدين نايب ښه توپ اچونه وکړه او هر يوه ۲ ويکټې ترلاسه کړې. متحده عربي اماراتو کرکټ لوبډلې ۱٦۳ منډې جوړې کړې چې افغان اتلانو د يوې بهترينې لوبې وروسته د ابراهيم ځدراڼ د ٦۰* او کريم جنت د چټکې نيمه سليزې پر مټ کوربه لوبډلې ته د ٦ ويکټو په توپير ماتې ورکړه او په دغو سياليو کې يې ۱-۲ اتلولي خپله کړه.

کريم جنت د يادې سيالۍ غوره لوبغاړی ونومول شو، نوموړي په دغه لوبه کې د يوازې په ۲۲ توپونو د ۵ شپږيزو او ۴ څلوريزو پر مټ ۵٦ منډې جوړې کړې. دا د ۲۰۲۳م کال په ترڅ کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې لومړنی نړيوال سفر و چې په ترڅ کې يې د متحده عربي اماراتو له کرکټ بورډ سره د افغانستان کرکټ بورډ د ګډې همکارۍ د يوه اوږدمهالي تړون له مخې درې شل اوريزې نړيوالې سيالۍ ترسره شوې. د ياد تړون له مخې به د افغانستان کرکټ بورډ د ۵ کلونو لپاره د متحده عربي اماراتو لوبډلې پر وړاندې هر کال درې شل اوريزې لوبې کوي، په بدل کې به يې د افغانستان کرکټ بورډ په ياد هېواد کې د لوبو د اجازې له فيسونو پرته د نورو لوبډلو کوربه توب کوي او همدارنګه د ويزو په برخه کې اړينې اسانتياوې ترلاسه کړې چې دا د پېسو د سپما په ډګر کې يوه ستره لاسته راوړنه شمېرل کېږي.

حمید حسن د ملي لوبډلې د توپ اچونې روزونکی وټاکل شو

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې پیاوړی چټک توپ اچوونکی حمید حسن چې د افغانستان ملي لوبډلې په ګټه یې نه هېرېدونکې سیالۍ ترسره کړې، د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د ملي لوبډلې د توپ اچونې د نوي روزونکي په توګه وټاکل شو چې له امله یې له نړیوال کرکټ سره مخه ښه هم اعلان کړه.
ښاغلي حسن له ۲۰۰۹م تر ۲۰۲۳م کال پورې د افغانستان لپاره نړیوالې لوبې ترسره کړې. حمید حسن چې له لومړنیو وختونو یې د هېواد له ملي لوبډلې سره لوبیز سفر پیل شوی، د لوبغاړو د نیمګړتیاو او پیاوړتیاو پراخه مطالعه لري چې په ګمارنې سره به یې د افغانستان د ملي لوبډلې د توپ اچونې او په ځانګړې ډول د چټکې توپ اچونې برخه لا غښتلې او بشپړه شي.
حمید حسن د پاکستان پر وړاندې د دریو شل اوریزو سیالیو لپاره له خپلې ملي لوبډلې سره ملګری و، چې د روزونکي په توګه یې په خپله لومړنۍ نړیواله لوبلړۍ کې افغانستان کرکټ ملي لوبډله د پاکستان پر وړاندې تاریخي بریا ته ورسوله. د یادو سیالیو د لومړۍ لوبې په پیل کې د افغانستان کرکټ بورډ له کرکټ سره د نومړي د مخه ښې ښه پروګرام هم تنظیم کړی و چې په ترخ کې یې په رسمي ډول له نړیوال کرکټ سره مخه ښه وکړه.
حمید حسن د هېواد لپاره خپله لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه په ۲۰۰۹م کال کې د سکاټلېنډ پر وړاندې ترسره کړه. نومړي د افغانستان لپاره ۳۸ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې ترسره کړې دي چې پکې یې د ۲۲.۵۴ بهترین اوسط سره ۵۹ ویکټې ترلاسه کړې دي. حسن دغه راز د افغانستان لپاره په ۲۵ نړیوالو شل اوریزه سیالیو کې لوبېدلی دی چې پکې یې د ۱٦.۳۷ غوره اوسط سره ۳۵ ویکټې ترلاسه کړې دي.
د یادونې وړ ده چې نومړي یوازې ۱۵ فرسټ کلاس لوبې کړې دي، خو د توپ اچونې له ۲۲.۸۸ بهترین اوسط سره یې ٦۹ ویکټې اخیستې دي چې پکې ٦ ځلې یې پنځه او ۳ ځلې یې لس ویکټې اخیستل شامل دي. د ٦۱ منډو په بدل کې ۷ ویکټې یې په یوه پاتۍ او د ۱۵۴ منډو په بدل کې یې د ۱۱ ویکټو ترلاسه کول د یوې لوبې ترټولو غوره توپ اچونه

شمېرل کېږي. دغه راز نومړي په ۵۵ لیسټ اې سیالیو کې ګډون وکړ چې پکې یې د ۲۳.۰۴ اوسط سره ۸۷ ویکټې ترلاسه کړې وې.
حمید حسن له کرکټ لوبې سره د مخه ښې او د ملي لوبډلې د توپ اچونې د نوي روزونکي په توګه د ټاکل کېدو په اړه وویل چې کرکټ د نومړي د ژوند په تېرو دوه-دریو لسیزو کې لویه برخه وه او د دې لوبې پرېښودل ورته ستونزمنه پرېکړه وه. ((کرکټ زما د ژوند ستره برخه ده او دا زما لپاره ډېره سخته پرېکړه ده چې له کرکټ لوبې چې زه ورسره ډېره مینه لرم، مخه ښه کوم. زه دا پرېکړه د خپل هېواد او د خپلې ملي لوبډلې د ښه والي لپاره اخلم.))
نومړي دغه راز زیاته کړه: ((په عین وخت کې خوشحاله یم چې د خپلې کرکټ ملي لوبډلې چې ما ورسره د لوبیز ژوند له هرې شېبې خوند اخیستی، د توپ اچونې د روزونکي په توګه کار کوم. ما په تېرو څو کلونو کې د خپلې ملي لوبډلې توپ اچوونکي له نږدې څارلي او هڅه به کوم چې د افغان لوبډلې د چټکې توپ اچونې برخه هم د ورو توپ اچونې په څېر پیاوړې کړم)).
حمید حسن د افغان لوبډلې د سختو او لومړنیو ورځو لوبغاړی دی چې تل یې له خپلې ټولې افغاني جذبې سره د افغانستان لپاره لوبه وکړه او ډېر ویاړونه یې د افغانستان په نوم کړل.
اتلان دي چې یادېږي...

د پاکستان پر وړاندې د افغان اتلانو تاریخي بریا

د افغانستان کرکټ بورډ په متحده عربي اماراتو کې د مارچ میاشتې له ۲۴مې تر ۲۷مې نېټې د درې شل اوریزو نړیوالو سیالیو لپاره د پاکستان کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړ چې په ترڅ کې یې د دواړو لوبډلو ترمنځ د کرکټ بهترینې سیالۍ ترسره شوې. د یادو سیالیو په لومړیو دوه لوبو کې افغان اتلانو د بېساري لوبو پر مټ سیالې پاکستانۍ لوبډلې ته ماتې ورکړې او د یادې لوبډلې پر وړاندې یې تاریخي بریاوې خپلې کړې.

دا د افغانستان د کرکټ په تاریخ کې لومړی ځل و چې د افغانستان د کرکټ ملي لوبډله په رسمي نړیوالو سیالیو کې پاکستان ته ماتې ورکوي. له دې وړاندې د دواړو لوبډلو ترمنځ ۷ نړیوالې سیالۍ ترسره شوې وې، چې پکې ۴ نړیوالې یو ورځنۍ او ۳ نړیوالې شل اوریزې سیالۍ شاملې وې، چې په ټولو سیالیو کې سیالې پاکستان لوبډلې بریاوې خپلې کړې وې.

د پاکستان پر وړاندې سیالیو کې د افغان لوبډلې دغه تاریخي بریاوې په هېواد او نړۍ کې د کرکټ مینه والو د ځانګړې پاملرنې وړ وګرځېدې او په نړیواله کچه د افغانستان کرکټ د مینه والو لخوا په پراخه کچه ولمانځل شوې. په هېواد کې د ننه نارینه، ښځینه، ماشومانو، ځوانانو او سپین ږیرو د افغان اتلانو د دې سترو او تاریخي بریاوو پراخ هرکلی وکړ او په خورا ښه توګه یې ولمانځلې.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې شل اوریزو نړیوالو سیالیو لوبیز راپور

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې شل اوریزو نړیوالو سیالیو د لوبلړۍ لومړۍ لوبه د مارچ میاشتې په ۲۴مه نېټه د متحده عربي اماراتو په شارجه کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه. په دغه لوبه کې پاکستان لوبډلې لومړۍ د توپوهنې پرېکړه وکړه خو افغان اتلانو د یوې بهترینې توپ اچونې پر مټ یوازې تر ۹۲ منډو ایساره کړه. افغان لوبډلې که څه هم په توپوهنه کې له ښه پیل وروسته څلور وېکټې ژر له لاسه ورکړې خو محمد نبي او نجیب الله ځدراڼ خورا ښه ملګرتیا وکړه او د افغان لوبډلې ته یې ستره تاریخي بریا ور په برخه کړه. محمد نبي، چې په توپ اچونه او توپوهنه کې یې ډېره ښه لوبه کړې وه او په دې تاریخي بریا کې یې ستر رول لوبولی و، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

دویمه لوبه کې بیا هم پاکستان لومړی توپوهنه وکړه خو افغان اتل فضل الحق فاروقي د لوبې په لومړیو درې توپونو دوه سیال لوبغاړي له ډګره بهر کړل او افغان لوبډلې ته یې په دویمه سیالي کې هم خورا ښه پیل ورکړ. پاکستانۍ لوبډلې د دغې سیالۍ د ګټلو په موخه افغان اتلانو ته د ۱۳۰ منډو هدف وټاکه چې افغان توپوهونکو د یوې خورا جالبې او بهترینې لوبې وروسته دغه هدف یوازې د ۳ لوبغاړو په زیان ترلاسه کړ. په دې بریا سره د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د پاکستان پر وړاندې دویمه بریا هم ثبت کړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې په لومړۍ لوبلړۍ کې تاریخي بریا خپله کړه.

دریمه سیالي د مارچ میاشتې په ۲۷مه نېټه ترسره شوه، د دریمې لوبې لپاره په افغان لوبډله کې یوه ځوان توپوهونکي صدیق الله اتل ته هم موقع ورکړل شوې وه چې دا یې په نړیوال کرکټ کې لومړنۍ لوبه وه. افغان لوبډلې دا ځل د پاکستان د ۱۸۲ منډو هدف بشپړ نکړ او له ماتې سره مخ شوه خو په لومړیو دوه سیالیو کې د بریاوو په خپلولو سره دغه تاریخي لوبلړۍ په خپل نوم کړه او د اتلولۍ جام یې پورته کړ.

د لوبډلې لباس او مالي ملاتړي

د افغانستان کرکټ بورډ د پاکستان پر وړاندې د درې شل اوریزو نړیوالو سیالیو لپاره د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې لپاره له ګڼ شمېر مالي ملاتړ کوونکو کمپنیو سره تړونونه لاسلیک کړل.
د افغانستان مخکښې مخابراتي شبکې اتصالات افغانستان ته د یادو سیالیو لپاره د ملي لوبډلې د مخکښ مالي ملاتړ حقوق ورکړل شوي ول چې د تړون له مخې د یاد شرکت نښان د افغان لوبدلې د لباس په مخه، له سینې لاندې د لباس په مرکزي برخه ولګېد. باید وویل شي چې د ملي لوبډلې د مخکښ مالي ملاتړ د حقوقو د پېرلو لپاره ګڼ شمېر بهرنیو شرکتونو خپله لېوالتیا څرګنده کړې وه او په لوړ قېمت د دغو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره خپل غوښتنلیکونه د افغانستان کرکټ بورډ ته لېږلي ول خو د افغانستان کرکټ بورډ دغه حقوق له افغاني ملي شرکت سره د ګډې همکارۍ او د ملي لوبډلې په لباس د ملي نښان درلودلو لپاره د اتصالات افغانستان مخابراتي شرکت سره تړون وکړ، تر څو د ملي لوبډلې په لباس ملي نښان شتون ولري او د خپل افغاني ملي شرکت په پرمختګ کې ونډه واخلي.
دغه راز د هېواد بل ملي شرکت (کام ایر هوایي شرکت) ته د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د طلایي مالي ملاتړ حقوق ورکړل شوي ول چې له مخې یې د یاد شرکت نښان د ملي لوبډلې د لباس د شا په پورتنۍ برخه، د لوبغاړي له نوم پورته، وکارول شو. د دې ترڅنګ سوپرکولا شرکت سره، چې دا هم ملي شرکت دی، د سیلور (نقره یي) مالي ملاتړ په توګه تړون لاسلیک شو چې نښان یې د افغان لوبډلې د لباس د ښۍ سینې برخه کې ولګېد.
سربېره پر دې د افغانستان کرکټ بورډ او هندۍ کمپنۍ (رېریو - Rario) ترمنځ د اوږدمهالي تړون له مخې یاد شرکت ته د لستوڼي د ملاتړ حقوق ورکړل شوي ول. د دې تړون له مخې د یاد شرکت نښان د لباس په لیډینګ ارم (د توپوهونکي هغه مټ چې د توپوهنې پرمهال کامرې ته مخامخ وي) کارول شوی و، په داسې حال کې چې د ټایکا شرکت نښان، چې د افغان لوبډلې د لباس د برخې همکار دی، د لباس په دویم لستوڼي چاپ شو.
په دې سره افغان لوبډلې د پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو د لوبلړۍ لپاره په ټوله کې ۵ مالي ملاتړي او همکاران درلودل چې په دې سیالیو کې یې د افغانستان کرکټ بورډ سره ګډ کار وکړ.



پروډکشن:

د پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو لوبلړۍ د افغانستان په کوربه توب ترسره شوه، د ډېرو نورو عملیاتي، لوجستیکي، تخنیکي او مالي چارو ترڅنګ د یوې غوره او مشهورې نړیوالې پروډکشن کمپنۍ ګمارل هم د افغانستان کرکټ بورډ پر غاړه ول چې باید د سیالیو د نشراتي تولید لپاره ترې کار واخلي. په همدې موخه د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې د ځانګړې او هر اړخیزې همغږۍ له مخې له ګڼ شمېر پروډکشن کمپنیو سره اوږدې خبرې اترې وشوې چې په پایله کې یې له هندۍ ای ټي ډبلیو (ITW) کمپنۍ سره، چې د ډېرو نورو برخو ترڅنګ د سیالیو په رسنیز-نشراتي تولید کې پراخه مخینه لري، تړون وکړ چې له مخې یې دغه سیالۍ په ۲۵ سترو کامرو تولید کړې.
د دغه تړون له مخې د افغانستان کرکټ بورډ د (ITW) کمپنۍ په ګډې همکارۍ د پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو ته په نړیواله کچه غوره نشراتي خدمات وړاندې کړل چې پر مټ یې د افغانستان او د یادو سیالیو خورا غوره انځور نړیوالو ته ورساوه.

رسنیز حقوق او د سیالیو رسمي خپروونکي:

د افغانستان کرکټ بورډ د پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو د لوبلړۍ رسنیز، د لوبغالي او ټکټونو حقوق د فایربرډ ورزشي مدیریتي شرکت ته ورکړل. فایربرډ ورزشي مدیریتي شرکت د هندۍ سمسکارا اداري څانګه ده چې د ورزشي فعالیتونو په رسنیزو او مالي ملاتړ اړوند چارو کې ښه مخینه لري. د افغانستان کرکټ بورډ، د دې لپاره چې د افغانستان د کرکټ مثبت انځور او حیثیت ته په نړیواله کچه لا زیاته وده ورکړل شي او د پاکستان پر وړاندې سیالیو ته غوره خدمات وړاندې شي، د سیالیو رسنیز، په لوبغالي کې د تبلیغاتو او د ټکټونو د مدیریت حقوق یاد شرکت ته ورکړل.

د سیالیو رسمي خپروونکي چینلونه:

د افغانستان کرکټ بورډ او فایربرډ ورزشي مدیریتي شرکت ترمنځ د تړون له مخې دغه شرکت د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درېو نړیوالو شل اوریزو سیالیو نشراتي حقوق په ټوله نړۍ کې په بېلابېلو چینلونو وپلورل. د دغو سیالیو د خپراوي حقوق په افغانستان کې د افغانستان ملي راډیو تلویزیون او اتصالات ته ورکړل شوي ول چې له مخې یې ملي راډیو تلویزیون په تلویزیون او اتصالات د خپل انلاین اپلیکیشن له لارې دغه سیالۍ په ژوندۍ بڼه نشر کړې. د دې ترڅنګ دغه سیالۍ په پاکستان کې جیو سوپر(Geo Super) ، پي ټي وي سپورټس(PTV Sports) ، تماشا تلویزیون(Tamasha TV) او ویډلي تلویزیون(Vidly.tv) نشر کړې. په هند کې فېن کوډ(Fancode) ، په منځنۍ ختیځ او شمالي افریقا کې مایکو تلویزیون(MYCO) ، په مالیزیا کې اسټرو تلویزیون(ASTRO) ، په انګلستان او ایرلینډ کې بي ټي سپورټس(BT Sports) ، په کاناډا کې پلس کرکټ(Plus Cricket) ، د امریکا په متحده ایالاتو کې اي ایس پي این پلس (+ ESPN) او په استرالیا کې فاکس سپورټس (Fox Sports) ته د دغو سیالیو د خپراوي حقوق ورکړل شوي ول چې له مخې یې دغه سیالۍ په یادو هېوادونو کې په ژوندۍ بڼه نشر شوې.

د ټولنیزو رسنیو پراخ پوښښ:

د پراخ تلویزیوني پوښښ ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ په خپلو ټولنیزو رسنیو یادو د افغانستان او پاکستان ترمنځ درېو نړیوالو شل اوریزو سیالیو ته خورا غوره رسنیز پوښښ ورکړ چې د سیالیو له پیله وړاندې د لوبډلې د چمتووالي او تمریناتو انځورونه او ویډیوګانې، د لوبغاړو، روزونکو او اړوند تخنیکي کسانو مرکې او نور موارد په منظم ډول نشر او یادو سیالیو په خورا ښه توګه کمپاین وشو. د سیالیو په لړ کې د لوبو تازه حال په انځوریز او ویډیویي بڼه په خورا ښه ډول وړاندې شو. له پروډکشن کمپنۍ سره د تړون له مخې د یادو سیالیو تازه کلیپونه چې پکې هره وېکټ، شپږیزه، غوره لحظې او د بریا شېبې شاملې وې، په منظمه او هم مهالي توګه د افغانستان کرکټ بورډ له رسمي فېسبوک، ټویټر او انسټاګرام پاڼو او د یوټیوب د لنډو کلیپونو په جلا برخه کې نشر شول چې د لیدونکو له پراخ هرکلي سره مخ شول. دغه راز د سیالیو د غوره او لنډې شېبې (هایلایټس) د افغانستان کرکټ بورډ په یوټیوب چاینل هم نشر شول چې هره ویډیو سلګونه زره لیدونکو ننداره کړه.

دغه راز د یادو سیالیو په لړ کې د افغانستان د ښکلو سیمو زړه راښکونکي ویډیویي کلیپونه مکرراً نشر شول چې ورسره د لوبو د غوره او جالبو صحنو ترڅنګ د افغانستان طبیعي ښکلا او منظرې هم په نړیواله کچه خپرې شوې. د دې ترڅنګ له افغانستان، پاکستان، هند، متحده عربي اماراتو او نورو هېوادونو د تلویزیوني، راډیویي، ویبپاڼو او نورو انځوریزو، غږېزو، چاپي او ټولنیزو رسنیو استازي د یادو سیالیو د پوښښ لپاره د متحده عربي اماراتو شارجې ښار ته تللي ول چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو ته رسنیز پوښښ ورکړي. باید وویل شي چې د یادو رسنیو د استازو مدیریت او د خبري کنفرانسونو برابرول هم د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې مسولیت و، چې په خورا ښه توګه یې ترسره کړ.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو د لوبلړۍ په دومره ډېرو هېوادونو کې نشرېدل او د ټولنیزو رسنیو له لارې پراخ رسنیز پوښښ د افغانستان د کرکټ د غوره انځور د وړاندې کولو او په راتلونکې کې د بازارموندنې اړوند چارو کې د ډېر احتمالي پرمختګ لپاره خورا ښه زیرى ګڼل کېږي.



لوبځاران او افغان میچ ریفري:

د افغانستان کرکټ بورډ د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې شل اوریزو سیالیو د څارنې او کنټرول په موخه افغان لوبځاران وګمارل. په دې ډله کې څلور افغان لوبځاران او یو افغان مېچ ریفري شامل و. د لوبځارانو ګمارنه د کوربه هېواد په غاړه وي او کولی شي هر لوبځار د یادو سیالیو لپاره وګماري خو د سیالیو لپاره د مېچ ریفري ګمارل د کرکټ نړیوالې شورا مسولیت دی. افغان لوبځارانو که څه هم له دې وړاندې په ډېرو نړیوالو سیالیو کې لوبځاري کړې وه، خو دا لومړی ځل و چې د کرکټ نړیواله شورا د نړیوالو سیالیو د څارنې او کنټرول په موخه افغان مېچ ریفري ګماري، چې دا په خپل ځای د افغانستان د کرکټ لپاره بل ښه زیری، ویاړ او لاسته راوړنه شمېرل کېږي.
د لوبځارانو په ډله کې احمد شاه پکتین، بسم الله جان شینواری، عزت الله ساپی او احمد شاه درانی د لوبځارانو په توګه ټاکل شوي ول خو د وېزو د ستونزو له امله عزت الله ساپی او احمد شاه درانی یادو سیالیو ته ونه رسېدل او پرځای یې بل افغان لوبځار فاروق خان، چې له دې وړاندې د افغانستان په کوربه توب د نولس کلنو لوبغاړو درې اړخیزو سیالیو د څارنې په موخه متحده عربي

اماراتو ته تللی و، د دریم لوبځار په توګه د پاکستان پر وړاندې سیالیو ته وګمارل شو. د نوموړې ترځنګ د تلویزیون د برخې لوبځار بیا د متحده عربي اماراتو اکبر علي خان وټاکل شو ترڅو په دغو سیالیو کې لوبځاري وکړي. حمیم تلوار حمید، چې له دې وړاندې یې د سپین غر زون په ګټه فرسټ کلاس کرکټ کړی دی او له تېرو څو کلونو راهیسې په کورني کرکت او د نولس کلنو لوبډلو ترمنځ سیالیو کې یې د مېچ ریفري په توګه دنده ترسره کړې وه، د کرکټ نړیوالې شورا له لوري د یادو سیالیو لپاره د مېچ ریفري په توګه ټاکل شوی و.

د غوره لوبغاړو جایزې او نغدي انعامات:

د افغانستان او پاکستان ترمنځ درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو د غوره لوبغاړو جایزې له افغاني لاجوردو جوړې شوې وې. لاجورد هغه قیمتي ډبره ده چې د زرګونو کلونو لپاره د افغانستان په غرونو کې پاتې شوې ده او د څواک، مبارزې او ځیرکتیا بېلګه ګڼل کېږي. دغه بې سارې جایزې د افغانستان د بډایه کلتوري میراث او د لوبغاړو د وړتیا او ژمنتیا د بېلګې په توګه په یادو سترو او تاریخي سیالیو کې غوره لوبغاړو ته ورکړل شوې چې په نړیواله کچه د ډېرو کرکټ مینه والو، مبصرینو او لیدونکو د خوښې وړ وګرځېدې. د غوره لوبغاړو د جایزو ترڅنګ لوبغاړو ته نغدي انعامات هم په افغانیو ورکړل شول چې دا هم د افغانستان د هویت د غوره استازولۍ لپاره غوره او مؤثر ګام و.

د سیالیو عمومي جام:

د افغانستان کرکټ بورډ په یوه بېساري نوښت د پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو جام له لاسي اوبدل شوي یوې توټې افغاني غالۍ جوړ شوی و چې د په نړیواله کچه د افغانانو د هنر یوه غوره بېلګه وړاندې شي او هم زموږ د ملت د بډایه کلتور او دودونو استازیتوب وکړي.

د پاکستانۍ لوبډلې ښه راغلاست:

د افغانستان او پاکستان پر وړاندې د سیالیو له پیله دوه ورځې وړاندې د پاکستان لوبډله متحده عربي اماراتو ته ورسېده، چېرته چې د افغانستان کرکټ بورډ د یادې لوبډلې د مېلمه پالنې مسولیت درلود. د پاکستانۍ لوبډلې د ښه راغلاست او هرکلی لپاره په افغاني ملي لباس ملبس افغان ماشومان د افغانستان کرکټ بورډ د اړوند چارواکو په شتون کې د پاکستان د کرکټ ملي لوبډلې د هرکلي لپاره حاضر ول چې یادې لوبډلې ته ښه راغلاست ووایي او له راتګ سره سم ورته تازه ګلان ډالۍ کړي. په افغاني ملي لباس کې د افغان ماشومانو په لاس د پاکستانۍ لوبډلې هرکلی کول د افغانانو د مېلمه دوستۍ او مېلمه پالنې بو بل اغېزمن ګام و، چې واخیستل شو. د افغانستان کرکټ بورډ دغه کړنه په نړیواله د ګڼ شمېر رسنیو او د دواړو هېوادونو د کرکټ څارونکو او مینه والو پام ځان ته اړولی و او ډېر شمېر پاکستاني رسنیو او مطرحه څېرو د افغانستان کرکټ بورډ د دې غوره ګام ستاینه وکړه چې په هومره ښه ډول یې د پاکستانۍ لوبډلې ښه راغلاست او هرکلی وکړ.

د پاکستان پر وړاندې د درې سیالیو د لوبلړۍ عمومي ګټې:

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو لوبلړۍ له ستر ارزښت برخمنه وه، د سیالیو کوربه توب یو ارزښت، د پاکستان پر وړاندې، چې د نړۍ له ۵ غوره لوبډلو شمېرل کېږي، د یوې پوره لوبلړۍ لوبول بل ارزښت او د یادې لوبلړۍ ګټل بیا بل ارزښت ګڼل کېږي چې د افغانستان کرکټ بورډ او د افغانستان ملي لوبدلې لپاره یې ډېرې ګټې درلودې.
لومړی دا چې د روان زیږدیز کال په پیل کې د استرالیا کرکټ بورډ پرېکړه وکړه چې د یو شمېر ستونزو له امله له افغانستان سره درې یو ورځنۍ سیالۍ، چې له وړاندې د افغانستان په کوربه توب پلان شوې وې، لغوه کړې، دې سره د افغانستان کرکټ بورډ ته مالي زیان اوښت، خو له نېکه مرغه د پاکستان کرکټ بورډ له افغانستان سره درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو ته زړه ښه کړ او له ډېرو خبرو اترو وروسته دغه سیالۍ په خورا ښه توګه ترسره شوې چې تر ډېره یې د افغانستان کرکټ بورډ د مالي زیان مخه ونیوله، تر دې چې د مالي ګټې په ترلاسه کولو کې یې هم ورسره مرسته وکړه.

د پاکستان پر وړاندې د یوې بشپړې لوبلړۍ لوبول د افغانستان لپاره بله ګټه وه، له دې وړاندې د دواړو لوبډلو ترمنځ ۷ لوبې ترسره شوې وې، خو دوه ځلې افغانستان کرکټ بورډ د یوې-یوې لوبې لپاره د پاکستان کوربه توب کړی و، او پاتې ۵ ځله په اسیایي او نړیوال جام سیالیو کې سره مخ شوې وې. دا لومړی ځل و چې د یوې بشپړې لوبلړۍ لپاره د افغانستان کرکټ بورډ د نړۍ له ۵ غوره لوبډلو د یوې لوبډلې کوربه توب کوي، چې دا په خپل ځای کې د یوه نوي فصل غوره پیل ګڼل کېږي.

دغه راز د دې لوبلړۍ ګټل یو بل ستر او تاریخي زیری و چې افغان اتلانو خپل ولس ته ورکړ. افغان لوبډلې د راشد خان په لوبډلمشرۍ د بهترینو او هر اړخیزو لوبو وروسته پاکستان ته د لومړي ځل لپاره په نړیوال کرکټ کې ماتې ورکړه. د یادې لوبډلې په ګټلو سره د افغانستان په اړه د نورو نړیوالو کرکټ بورډونو ذهنیت هم بدل شوی او ښایي ډېر شمېر بورډونه د افغانستان پر وړاندې سیالیو او اوږدو لوبلړیو ته زړه ښه کړي چې له مخې به یې افغانستان کرکټ ملي لوبډله خورا مصروفه راتلونکی ولري.

د سیالیو غوره مدیریت:

دد پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو کوربه توب او مدیریت د افغانستان کرکټ بورډ په غاړه و. د افغانستان کرکټ بورډ د یادو سیالیو له پیله تقریباً یوه میاشت وړاندې خپل چمتووالی پیل کړی و چې د مېلمه پاکستانۍ لوبډلې ترڅنګ د افغان لوبډلې د کوربه توب او غوره مېلمه پالنې لپاره له هره اړخه چمتو واوسي. د افغانستان کرکټ بورډ د یادو سیالیو د غوره تنظیم لپاره یوه لس کسیزه کمېټه ګمارلې وه چې له لوجستیکي، عملیاتي، تخنیکي، رسنیز او مالي اړخه بشپړ چمتووالی ولري. افغانستان کرکټ بورډ شپه او ورځ کار وکړ، د سختو هلو ځلو پر مټ یې یادې سیالۍ په خورا منظمه توګه تنظیم کړې او د سیالیو خورا ښه کوربه توب وشو.
د پاکستانۍ لوبدلې ډېره ښه مېلمه پالنه وشوه، افغان لوبغاړو خپل پاکستاني سیالانو ته د نورو ډالیو ترڅنګ د افغانستان زعفران هم د ډالۍ په توګه ورکړل چې د هغوی د خوښې او ډېرې پاملرنې وړ وګرځېدل او ټولو لوبغاړو له افغانستان کرکټ بورډ او له افغان لوبغاړو خورا ښې تجربې او یادونه له ځان سره یوړل.
د پاکستان پر وړاندې د سیالیو غوره مدیریت دا په ډاګه کړه چې د افغانستان کرکټ بورډ د بشپړو لوبلړیو لپاره د سترو لوبډلو د کوربه توب او مدیریت ظرفیت لري او کولی شي چې د لا ډېرو سیالیو او اوږدو لوبلړیو لپاره د نورو سترو لوبډلو کوربه توب هم وکړي. په ټوله کې د پاکستان پر وړاندې د سیالیو کوربه توب په خورا ښه ډول ترسره شو او د افغانستان کرکټ بورډ لپاره عالي تجربه وه چې کولی شي په راتلونکي کې ترې د نورو لوبډلو په کوربه توب کې کار واخلي.

توافقنامه همکاری بین کرکت بورد افغانستان و امارات متحده عربی امضا شد

توافقنامه همکاری پنج ساله بین کرکت بورد افغانستان و امارات متحده عربی به امضا رسید که طبق آن تیم افغانستان همه ساله سه مسابقه بیست آوره با امارات متحده عربی برگذار خواهد شد و در بدل آن کرکت بورد افغانستان بدون کدام هزینه از مسابقات خویش در امارات متحده عربی میزبانی خواهد کرد و همچنان در بخش دریافت ویزا تسهیلات لازم برای بازیکنان افغان و کارمندان اداره فراهم شده میشود که در راستای پس انداز پول برای کرکت بورد افغانستان این یک دست آورد بزرگ میباشد.

محترم نصیب خان رییس اجراییوی کرکت بورد افغانستان می گوید که این یک توافقنامه مملو از دست آوردها است که بر اساس آن هر دو تیم به بهترین نحو از آن سود می برند و پل بسیار خوبی برای همکاری بیشتر دو جانبه است.

محترم نصیب خان افزود: ((این قرارداد برای مدت پنج سال امضا شده است. ما هر سال سه مسابقه بیست آوره را با امارات متحده عربی برگزار خواهیم کرد. در بدل مسابقات مذکور از ما فیس اجازه مسابقات اخذ نخواهد شد که قبل از این یک رقم هنگفت پرداخت میشد، همچنان در جریان بازی ها با میزبانی ما در امارات متحده عربی در بخش دریافت ویزا همکاری میشود، در دبی سپورتس سیتی برای ما یک دفتر اختصاص داده شده و طبق این قرار داد با ما در راستای بازاریابی نیز همکاری خواهد شد.))

محترم نصیب خان افزود؛ قبل از این ما چنین مکان مشخصی برای میزبانی سایر تیم ها نداشتیم. اکنون که این قرارداد همکاری را با کرکت بورد امارات متحده عربی امضا کرده ایم، مطمئن هستیم که می توانیم از سایر تیم ها به وجه احسن در این کشور میزبانی کنیم.

علاوه بر این، مسئولان کرکت بورد امارات متحده عربی نیز ابراز خوشحالی کردند و گفتند که از امضای این قرارداد با کرکت بورد افغانستان خوشحال هستند و این قرارداد زمینه همکاری های دوجانبه را میان هردو کرکت بورد در بخش برگزاری بازی ها و ایجاد سحولت ها مساعد نموده است.

مزایای این قرارداد:

این قرارداد بین کرکت بورد افغانستان و امارات متحده عربی به مدت پنج سال به امضا رسیده است که بر اساس آن، کرکت بورد افغانستان در این دوره اجازه میزبانی مسابقات را در امارات متحده عربی خواهد داشت. در بدل دریافت این حق، تیم ملی کرکت افغانستان سالانه یک سلسله مسابقات بیست آوره را با امارات متحده عربی به میزبانی امارت متحده عربی برگزار می کند که در بدل آن هیچ هزینه ای برای مجوز بازی در امارات متحده عربی دریافت نمی شود، در حالی که قبل از این، کرکت بورد افغانستان برای هر بازی تا صد هزار دالر هزینه پرداخت می کرد.

علاوه بر این، کرکت بورد امارات متحده عربی نیز در ایجاد تسهیلات برای تیم های مهمان و میزبان در ویزا و سایر زمینه های مرتبط در بازی ها و مسابقات تیم افغانستان در برابر سایر تیم ها کمک خواهد کرد. تا بورد کرکت افغانستان فعالیت های مرتبط خود را انجام دهد.

همچنین بورد مذکور در یافتن حامیان مالی به بخش فروشات و بازاریابی کرکت بورد افغانستان کمک خواهد کرد. امضای این موافقتنامه به کرکت بورد افغانستان کمک خواهد کرد تا مکان مناسب و قابل دسترس را برای میزبانی و صرفه جویی در هزینه ها فراهم کند.

کرکت اوینچیسی

مراد مرادی

بیلن صحبت داشلیق

برنجی سوراغ: سیز کوپ وختدان باری کرکت سوییورسینگیز و اوزینگیز هم بیر ادرمن کرکتچی، کرکت اوچین سویگی و کرکته گیلیشنگیزدن آیدینگ؟
جواب: من مراد علی "ترکمن" فاریاب ولایت نینگ اندخوی ولسوالیغیندن، کوپ وختدان باری کرکته گوون غویدیغیمدان 2005 ییلیندان باری کرکت اوینینی اویناب افغانستان کرکت بورد طرفیندن اوینآب جوابکارلرینگ اونسینی چکتم و 2005 ییلنده افغانستان 15 یاشارلار کرکت تیم اوینچیسی بولوپ دبی ملکنه گتدم. شولاریانی 17 یاشارلار تیمده و همده افغانستان 19 یاشارلار کرکت تیم حصه سی بولب 2009 ییلینده نیوزیلند ملکنه گتدم. افغانستان ینگ ایچرکی اوییناردنده بییک غازنچ لارم بارلیغیندان هم first اوینلارده آمو زون اوچین کوپ غازنچ و ریکورد/یازغی لارم بار. یاشلیغیمدان اسلاگیم بارتی، که عزیز اولکه میز افغانستان دان نماینده لیق اتسم و تیم ملی نینگ حصه سی بولسم. اما بو مقصدمه بیتام یوق، کوشش و زحمتلرمی دوام بیریورن و حوصله می باییرم یوق. انشاالله بیرگون ملی تیمینگ حصه سی بولب عزیز وطنمیزه آبروی و غزنچلاریمی گوندرسم دیب آرزو اتیورن.

ایکنجی سوراغ: سیز افغانستان و پاکستان series اوچین اداره نینگ ایسله گینه گورا حالیچه غورشاب بیردینگیز، قنچه وقتده غورشالدی و اداره نینگ بول اقدامنی ناهیلی گوریورسینگیز؟ بول باره ده معلومات بیرینگ.
جواب: هوه!
حالی (قالین) افغانستان ترکمن لارینگ ال هنری، افغانستان میزینگ بیر نام و نشانی، همده مرتبه سنی بوتین دنیا تانیدیب اولکه میزینگ اقتصادینه بیر بییک غوشنج دور. شونینگ اوچین افغانستان کرکت بورد اداره سی، افغانستان و پاکستان کرکت سیریزینه (بیرseries) قالینچه غورشلماسینی ایسلادیلر، که تیز وقتده تیارلاب کرکت بورد افغانستان تقدیم اتدم. اداره کرکت بوردینگ بول اقدامی کوپ یخشی، وطن میزینگ فرهنگ و عنعناتی و خصوصا هم قالین دنیا تانیتماق اوچین نظره آلینبدر.

اوچلانجی سوراغ: فاریاب و باشغه یاقین ولایت لارده، مدرم کرکتی قنچه یغشی گوریورلار و سیزینگ امیدینگیز نامه؟ شول بارهده آیدسانگیز.
جواب: فاریاب و باشغه همسایه ولایت لار اوزاق ده غالن لیغی اوچین کرکت اوسیش و طرقی یولینی یوراب بیلمان تیمدن کاواننددن ایزه غالدی. شونده هم ادرمن و کرکت سیور جوان لار هر دورلی تورنمنتلری اورته غویورلار و خصوصا ترکمن خلقمز اورته سینده هر بیر غیشلاق یا جای ده طوی بایرام بولسه شول طوی جای طرفندن تورنمنت اورته غوییلیب بیرینجی مقام بولنه غویین و ایکنجی نقدی پول و باشغه انعام لار بیلن تجلیل ادیلیور.

طورتلانجی سوراغ: کرکت دن و هم حیاتینگیزدن بیرگوزل خاطرانگیز بولسه بیان ادینگ؟
جواب: بیر کرکتر اوچین اونینگ اینگ گوزل خاطره سی، سینچری اورن گونی یا یخشی اویناب اوزنینگ استعدادینینگ بارلیغینی بیلدیرمک بولیور. first class اوین لارده اوران هر بیر سنچریلرم (senchiri)دورمیش مینگ اینگ گوزل و شیرین خاطره لاریدر.

باشلنجی سوراغ: ایلداش لاره نامه پیامینگز بار ؟
جواب: بیرنجی دن عزیز فامیلدن و همه دوست و هوادارلارم دن منتدارلیق اتیون منی حمایت اتدی و اتیورلار و خصوصا حامی لارم دن بو ترکمن دوغننی حمایت ادیورلار. هر یرده بولسه ساغ امان و باعزت بولسین لار.
یاشه سین افعانستان
تل دی وی افغانستان
زنده باد افغانستان

د جيم او د درملنې د نوي مرکز بيا رغونه

د افغانستان کرکټ بورډ د په نوي اداري جوړښت کې، چې تېر کال د بورډ د غړو له لوري منظور شو، د لوړو مهارتونو مرکز ته ځای ورکړل شوی دی. د ياد مرکز د ځانګړې همغږۍ له مخې د لوبغاړو لپاره جم بيا ځلې او په نوي بڼه ورغبده ترڅو لوبغاړو ته د تمرين او فزيکي تکړښت د پياوړتيا په موخه هوسا ماحول برابر شي او په اړونده برخه کې د دوی لپاره هر اړخيزې اسانتياوې رامنځته شي.

دا چې فزيکي تکړښت او ځواکمنتيا د لوبغاړو په وده کې خورا اړينه ونډه لري نو د افغانستان کرکټ بورډ د لوبغاړو لپاره په اړونده برخه کې د اړينو اسانتياو د برابرولو په موخه د ياد جم لپاره نوي او عصري وسايل هم وپېرل ترڅو لوبغاړي په يوه هوسا او ارام ماحول کې خپل تمرينات ترسره کړي.

دا هم بايد ووېل شي چې له دې وړاندې د ياد جم مساحت ۲۰۰ متره مربع و خو د بيا رغونې په پروسه کې د ۵۵ متره مربع په اندازې سره زياته شوه چې اوس يې ټول مساحت ۲۵۵ متره مربع ته رسېږي. د ياد جم رغنيزې چارې په دوه مياشتو کې بشپړې شوې چې څه باندې دوه ميليونه افغانۍ پرې مصرف شوې.

دغه راز د د لوړو مهارتونو مرکز اړوند د لوبغاړو د درملنې په موخه په عصري وسايلو سمبال د لوبغاړو درملنې مرکز (Players' Rehab Center) هم جوړ او ګټې اخيستو ته وسپارل شو. د ياد جم او د لوبغاړو د درملنې د نوي مرکز لپاره يو بهرنی تکړه متخصص چې د لوبغاړو د فزيکي تکړښت، روزنه او د ټپونو په درملنه کې مهارت لري، هم په دنده ګمارل شوی دی.

دغه راز يوه ډاکټر او فيزيو سره، چې د سپورتي ټپونو (Sports Injuries) په برخه کې ماسټري يا دکتورا او د لوبغاړو په درملنه کې پراخه تجربه ولري، هم خبرې روانې دي چې ډېر ژر به په دنده وګمارل شي. دغه راز د سرېټي اکادمۍ، د لامبو حوض يا تالاب، جکوزۍ او بل هره هغه اسانتيا چې د لوبغاړو د درملنې په برخه کې مهم رول ولري او ضرور وي، هغه به راتلونکي لنډ وخت کې د لوړو مهارتونو په مرکز کې شتون ولري.

له دې سره به د افغانستان کرکټ بورډ له دې وروسته لوبغاړي د درملنې په موخه بهرنيو هېوادونو ته نه لېږي او په هېواد دننه به يې بشپړه درملنه کېږي چې ورسره به د زياتو مصارفو په کمولو او د پيسو په سپما کې اغېزمن رول ولوبوي.

د افغانستان کرکټ بورډ د بورډ غړو ترمنځ کلنۍ ناسته ترسره شوه

د افغانستان کرکټ بورډ د روان ۲۰۲۳م کال په مارچ مياشت کې د بورډ غړو ترمنځ کلنۍ عمومي ناسته ترسره کړه چې پکې د افغانستان کرکټ بورډ د فعاليتونو څارنه او پر يو شمېر مهمو مسايلو بحث او پرېکړې وشوې. په ياده غونډه کې د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ميرويس اشرف، اجراييوي رئيس نصيب خان، همدا راز د بورډ غړو هر يوه احمد خالد حاتم، خان جان الکوزي، رئيس احمدزي، الله داد نوري، رحمت الحق فضيل، عبيدالله صدرخېل او د اداري يو شمېر مديرانو ګډون کړی وو.

په ياده غونډه کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې پر تېرو او راتلونکو لوبو خبرې وشوې. سربېره پر دې د يادو غړو لخوا د افغانستان کرکټ بورډ د تېر کال لاسته راوړنې وستايل شوې او د لا ښه والي په موخه يې خپلې لارښوونې او وړانديزونه د اداري له مشرتابه سره شريک کړل. دغه راز د يادونې وړ ده چې د افغانستان کرکټ بورډ د تېر کال د مصرف شوې بوديجې، عوايدو او همدارنګه د تېر کال تفتيش راپورونه وړاندې شول چې د بورډ غړو له لوري تر هر اړخيزې ارزونې وروسته ومنل شوه. په ورته وخت کې د افغانستان کرکټ بورډ د نوي کال راپور تشريح او د يادو غړو له لوري منظور او لاسليک شو.

د بورډ غړو لخوا د افغانستان کرکټ بورډ اداري ته د افغانستان شل اوريز غوره ليګ او شپږيزه کرکټ ليګ د ښه ترسره کولو په موخه سپارښتنې وشوې. د يادو غړو په وينا چې شپږيزه او افغانستان غوره ليګونه د هېواد د کرکټ د غوړېدا او نويو استعدادونو د را پيدا کولو مهمې سرچينې دي چې په ښه او غوره کيفيت د ترسره کولو لپاره يې بايد ګامونه واخيستل شي.

د غونډې په پای کې د افغانستان کرکټ بورډ ټولې پاليسۍ او طرزالعملونه چې تېرې ناستې کې وړاندې شوې وو، د بورډ د غړو له لوري په بشپړه توګه منظور او لاسليک شول.

د يادوونې وړ ده د افغانستان کرکټ بورډ غړو کلنۍ ناسته چې هر کال د اداري د اوو بېلابېلو غړو ترمنځ ترسره کېږي؛ پکې د افغانستان کرکټ بورډ د ستراتيژيو، لاسته راوړنو، لګښتونو، مالي ګټو او روانو کارونو کتنه، ارزونه او منظوري کېږي.

ننګرهار ب لوبډلې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالیو اتلولي خپله کړه

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ په چوکاټ کې ترسره کېدونکې وزیر محمد اکبر خان دویمه او لومړۍ درجه سیالۍ چې هر کال د هېواد ټولو ولایتي لوبډلو ترمنځ ترسره کېږي، سږ کال یې اتلولي د ننګرهار ب لوبډلې د کابل په ماتولو سره ترلاسه کړه. د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې لخوا لومړی په کندهار، ننګرهار او خوست ولایتونو کې د فبروري میاشتې له لومړۍ تر ۲۱مې نېټې پورې د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالۍ ترسره شوې چې ۳۱ ولایتي لوبډلو پکې ګډون درلود.

یادې سیالۍ چې ۲۱ ورځې وخت یې ونیوه ټولې لوبډلې په شپږو ګروپونو کې ځای پر ځای شوې وې او له هر ګروپ څخه یوې مخکښې لوبډلې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالیو ته لاره وکړه. باید وویل شي چې یادې سیالۍ په سپین لباس او سور رنګ توپ سره د یو ورځنیو لوبو په بڼه ترسره شوې.

د دغو سیالیو له لومړي ګروپ څخه خوست لوبډلې د خپلو ۵ وارو سیالیو په ګټلو، له ب ګروپ څخه ننګرهار ب لوبډلې، له سي ګروپ څخه لوګر لوبډلې، له ډي ګروپ څخه کابل لوبډلې، له اي ګروپ څخه لغمان لوبډلې او له ایف ګروپ څخه کونړ لوبډلې په دې وتوانېدې چې خپلو ګروپونو کې د لومړیو مقامونو په نیولو سره د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالیو ته لاره وکړي.

د وزیر محمد اکبرخان لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ:

د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو له پای ته رسېدو وروسته په خوست او ننګرهار ولایتونو کې د مارچ میاشتې پر دریمه نېټه د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ پیل شوې او د همدې میاشتې پر ۲۰مه نېټه یې اتلولي د ننګرهار ب لوبډلې په بریا سره پای ته ورسېده. یاده پایلوبه چې د ننګرهار په غازي امان الله خان لوبغالي کې ترسره شوه، کابل لوبډلې د ۱۰۱ منډو په توپیر سره کابل لوبډلې ته ماتې ورکړې وه.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالۍ چې لوګر، کونړ، خوست، ننګرهار ب او لغمان لوبډلو له دویمه درجه ولایتي سیالیو ورته لاره موندلې وه، کندهار، پکتیا، کندز او ننګرهار الف لوبډلو د تېر کال د لومړۍ درجه سیالیو نیمه پایلوبو ته د لار موندلو پر بنسټ له وړاندې دغه سیالیو کې پاتې وې، خو دوه نورې لوبډلې اې سي بي ایلېون او چېیرمېن ایلېون لوبډلې د دویمه درجه سیالیو د هغو ځلېدونکو لوبغاړو د لوبولو په موخه ور زیاتې شوې چې لوبډلو یې لومړۍ درجه لوبو ته لاره ونه موندله.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالۍ چې ۱۲ لوبډلو پکې برخه درلوده، په دوه ګروپونو کې خوست او ننګرهار کې د یو بل پر وړاندې سیالۍ ترسره کړې. د یادو سیالیو په لومړي ګروپ کې کابل، چېیرمېن ایلېون، لوګر، کونړ، کندز او ننګرهار لوبډلې. همدا راز ب ګروپ کې خوست، ننګرهار ب، لغمان، کندهار، پکتیا او اې سي بي ایلېون لوبډلې ځای پر ځای شوې وې، چې هر لوبډلې پنځه-پنځه لوبې ترسره کړې.

د یادو سیالیو له الف ګروپ څخه کابل د ۳ سیالیو په ګټلو او ٦ امتیازونو په ترلاسه کولو او چېیرمېن ایلیون لوبډلې د ۳ سیالیو په ګټلو او ٦ امتیازونو لاسته راوړلو سره نیمه پایلوبو ته لاره وکړه. همدا رنګه له ب ګروپ څخه لغمان لوبډلې د ۴ لوبو په ګټلو او ۸ امتیازونو په خپلولو او ننګرهار ب لوبډلې د ۳ لوبو په ګټلو او ٦ متیازونو په لرلو نیمه پایلوبو ته لاره وکړه. د سږ کال لومړۍ درجه سیالۍ چې نیمه پایلوبې او پایلوبه یې ننګرهار کې ترسره شوې، په لومړۍ نیمه پایلوبه کې ننګرهار ب لوبډلې د چېیرمېن ایلېون لوبډلې ته او دویمه نیمه پایلوبه کې کابل لوبډلې د لغمان لوبډلې ته ماتې ورکړې او د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالیو پایلوبې ته یې لاره وکړه. د یادو سیالیو پایلوبه چې د مارچ میاشتې پر ۲۰مه نېټه ترسره شوه، ننګرهار لوبډلې د ۱۰۱ منډو په توپیر کابل ته ماتې ورکړه.

په دغه لوبه کې لومړی ننګرهار ب لوبډلې توپوهنه وکړه، چې د ۵ لوبغاړو په سوځېدو یې ۲۸۸ منډې هدف وټاکه. د دوی په ګټه عابد محمدي ۱۱۴ منډې ترسره کړې وې. کابل لوبډلې په ټاکل شوي هدف پسې ۴۲م اور کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکړه او ټولټال ۱۸٦ منډې یې جوړې کړې. د ننګرهار ب لوبډلې الراونډر لوبغاړي عابد محمدي ۴ ویکټې ترلاسه کړې او د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

د لومړۍ درجه سیالیو ځلېدونکي لوبغاړي

د وزير محمد اکبرخان لومړۍ درجه سیالیو په لړ کې زیات شمېر لوبغاړو غوره کارګردګي ترسره کړې چې یو شمېر نومونه یې د یادوولو وړ دي.

ACB MEDIA

WAZIR MOHAMMAD AKBAR KHAN PROVINCIAL GRADE I TOURNAMENT 2023

TOP 10 LEADING RUN-SCORERS

NAME	TEAM	INN	RUNS	HS	AVE	SR	100/50	4s/6s
BAHIR SHAH	KUNAR	5	**386**	159*	128.66	96.25	2/1	33/12
ABID MOHAMMADI	NGR B	7	**338**	114	56.33	99.12	1/2	28/15
MOHAMMAD ISHAQ	NGR B	7	**324**	133*	64.80	103.18	1/2	29/8
DIL AGHA	NGR B	7	**309**	119*	51.50	96.26	1/1	37/8
HAYATULLAH	KUNDUZ	5	**286**	126*	95.33	102.87	1/1	35/7
IMRAN MIR	LOGAR	5	**283**	134*	70.75	87.61	1/1	45/1
ARSHAD SAFI	KUNAR	5	**239**	93	47.80	72.42	0/1	24/0
ISMAT ALAM	NGR	5	**234**	81	58.50	105.40	0/2	20/6
ISLAM ZAZAI	KABUL	7	**226**	102*	56.50	71.29	1/1	19/3
TAHIR KHAN	LAGHMAN	6	**211**	65	35.16	67.62	0/2	16/7

#WAKGRADEI2023

ACB MEDIA

WAZIR MOHAMMAD AKBAR KHAN PROVINCIAL GRADE I TOURNAMENT 2023

TOP 10 LEADING WICKET TAKERS

NAME	TEAM	INN	OVERS	WKTS	BBI	AVE	ER	4/5
AHMAD WALI	CHAIRMAN XI	6	57.2	**19**	8/30	12.73	4.22	1/1
MOHAMMADULLAH	LOGAR	5	44.0	**15**	4/36	9.33	3.18	2/0
IBRAHIM SAFI	KUNDUZ	5	50.0	**14**	4/18	10.64	2.98	3/0
JAWED SAYEDI	LAGHMAN	6	51.1	**14**	4/16	14.78	4.04	1/0
ARAB GUL	ACB XI	5	49.0	**14**	4/43	15.42	4.40	2/0
ALLAH MOHAMMAD	KABUL	7	62.3	**14**	4/45	16.07	3.60	1/0
SOHAIL KHAN	NGR B	7	62.3	**13**	4/36	18.84	3.92	1/0
NAVEED ZADRAN	KHOST	5	37.0	**12**	4/25	15.33	4.97	1/0
ABID MOHAMMADI	NGR B	7	56.0	**12**	4/48	22.75	4.87	1/0
IJAZ UL HAQ	KUNAR	5	44.1	**11**	3/23	14.09	3.50	0/0

د یادوونې وړ ده چې د وزیر محمد اکبر خان دویمه او لومړۍ درجه سیالۍ هر کال د هېواد د ټولو ولایتي لوبډلو په ګډون ترسره کېږي. د یادو سیالیو موخه د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه د نایابه او پیاوړو استعدادونه موندل او له پورته دوو مهمو پړاونو وروسته د میرویس نیکه درې ورځنیو، غازي امان الله خان لیسټ اې او احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس لوبو ته غوره کول دي.

د افغانستان کرکټ بورډ د کورنیو سیالیو مهالویش

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ په چوکاټ کې هر کال په لوی شمېر سیالۍ ترسره کوي. دغه سیالۍ چې موخه يې د کرکټ لوبې پراختیا او په کور دننه د ځوان استعدادونوموندنه ده، په بېلابېلو بڼو د هېواد په ګوټ ګوټ کې ترسره کېږي. د افغانستان کرکټ بورډ د تېرو کلونو په څېر دا ځلې هم ګڼ شمېر سیالۍ په پلان کې لري چې په لاندې ډول دي:

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۳م کلني پلان له مخې هرکال د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه سیالۍ، د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالۍ، د زرغون افغانستان جام سیالۍ، د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ، شپږیزه کرکټ لیګ، د غازي امان الله خان یو ورځنۍ سیالۍ، د شهید نجیب الله تره کې معلولینو سیالۍ، رحمت ولي مسرور ایمرجینګ سیالۍ، احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالۍ، تر ۱٦ کلونو د کم عمر لرونکو سیالۍ، د ښوونځیو په کچه سیالۍ، په ټولو ولایتونو کې د کلبونو په کچه سیالۍ، د غوره ولایتي کلبونو په کچه ولایتي سیالۍ او د اتلو کلبونو ترمنځ د زونونو په کچه سیالۍ ترسره کېږي.

د روان ۲۰۲۳م کال د سیالیو پیل له وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو څخه وشو چې د هېواد د ۳۱ ولایتونو لوبډلو پکې برخه اخیستې وه. له یادو سیالیو، لوګر، کونړ، ننګرهار ب، خوست، لغمان او کابل د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالیو ته لاره وکړه. د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالۍ چې د خوست او ننګرهار په کوربه توب ترسره شوې، اتلولي يې په لومړۍ ځل د ننګرهار ب لوبډلې وګټله. ننګرهار ب لوبډلې په پایلوبه کې کابل لوبډلې ته د ۱۰۱ منډو په توپیر سره ماتې ورکړې وه.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالیو کې پکتیا، کندهار، ننګرهار، کندز، کونړ، لغمان، ننګرهار ب، کابل، لوګر، خوست، چیېرمېن ایلېون او اې سي بي ایلېون لوبډلو ګډون درلود.

له دې وروسته به په ننګرهار کې د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ پیل شي، چې د هېواد پنځه زونونو لوبډلې هر یوه امو، بست، سپین غر، مس عینک او بندامیر به پکې برخه لري. دغه سیالۍ چې سپین رنګه لباس او سور رنګ توپ ترسره کیږي، د وزیر محمد اکبر خان د لومړۍ درجه سیالیو غوره لوبغاړي پکې ګډون لري. د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ ځانګې لخوا یادې سیالۍ مې میاشتې کې ترسره کیږي.

د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو هم مهاله د زرغون افغانستان جام سیالۍ د دویم ځل لپاره په خوست ولایت کې ترسره کېږي، یادې لوبې د یو ورځنیو سیالیو په بڼه ترسره کیږي، چې د افغانستان ملي او کورني کرکټ پیاوړي لوبغاړي پکې لوبیږي.

د یادوونې وړ ده چې سږ کال په یادو سیالیو کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان تر ۱۹ کلونو د کم عمر لرونکو لوبغاړو لپاره یوه لوبډله ور زیاته شوې ده چې له ملي او کورني کرکټ ستورو لوبغاړو پر وړاندې به سیالۍ ترسره کړي.

د زرغون افغانستان سیالیو وروسته چې د اپریل په وروستیو کې پیل او د مې تر نیمایي پورې به دوام ومومي د روان کال په مهالوېش کې شپږیزه کرکټ لیګ هم په پلان کې نیول شوی چې د کورني کرکټ او ملي لوبډلو ستوري لوبغاړي به پکې برخه ولري، د افغانستان شپږیزه کرکټ لیګ کې چې هر کال ترسره کیږي، سږکال به له نویو رنګونو او نوښتونو سره ترسره شي. په یاد لیګ کې اته لوبډلې، سپین غر پړانګان، بست ساتونکي، مس عینک اتلان، امو نهنګان، کابل بازان، بندامیر ښاماران، پامیر زلمي او هندوکش ستوري ګډون لري. د یاد لیګ د تېر کال اتلولي سپین غر پړانګان لوبډلې ګټلې ده.

ورپسې د غازي امان الله خان یو ورځنیو سیالیو جام ترسره کېږي، دغه سیالۍ چې راتلونکي جولای میاشت کې پلان شوې دي. د هېواد د پنځو زونونو لوبډلې پکې برخه لري. په یادو لوبو کې د میرویس نیکه جام درې ورځنیو سیالیو ځلېدونکي لوبغاړي، ملي او د کورني کرکټ پیاوړي لوبغاړي ګډون کوي. دا سیالۍ چې سږ کال په کابل کې پلان شوې، لېسټ اې دریځ لري چې د کورني کرکټ سیالیو ستره برخه تشکیلوي او له ۲۰۱۷م کال راهیسې په منظمه توګه ترسره کېږي.

د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس څلور ورځنۍ سیالۍ چې په کور دننه تر ټولو سترې سیالۍ ګڼل کیږي، سږکال په سپټمبر او اکتوبر میاشتو کې پلان شوې دي، په خوست ولایت کې ترسره شي. د یادو سیالیو د تېر کال اتلولي بندامیر زون ګټلې ده. په دې لوبو کې د افغانستان د ملي لوبغاړو په ګډون د کورني کرکټ نوموتي لوبغاړي برخه لري. همد راز د معلولیت لرونکو لوبغاړو لپاره هم سیالۍ په پام کې نیول شوې دي چې د تېر کال په څېر به د جولای په میاشت کې د ۵ زونونو ترمنځ په کونړ ولایت کې ترسره شي.

د دې ترڅنګ د ۲۳ کلنو ځوانو لوبغاړو لپاره هم د زونونو په کچه د کرکټ سیالۍ په پام کې نیول شوې دي چې د ۵ لوبډلو ترمنځ به د هېواد په کندز ولایت کې د اګسټ په میاشت کې ترسره شي. دغه سیالۍ به د روان کال د ۲۳ کلنو لوبغاړو د اسیا کپ سیالیو لپاره د غوره چمتووالي په موخه ترسره شي. د ویلو ده چې دا لومړی ځل دی چې د ۲۳کلونو ملي لوبغاړو لپاره په کور دننه سیالۍ پلان کیږي.

د زونونو په کچه له ۱٦ کلنو کم عمره لوبغاړو ترمنځ سیالۍ هم د اکتوبر او نومبر میاشتو په ترڅ کې په ننګرهار ولایت کې ترسره کېږي. دغه راز به د ښوونځیو ترمنځ سیالۍ هم په پلان کې شاملې دي چې د زونونو په کچه وروستی پړاو سیالۍ به يې په نومبر میاشت کې د خوست ولایت په کرکټ لوبغالي کې ترسره شي. د دې سیالیو ترڅنګ به په ډسمبر میاشت کې د هېواد په کچه د غوره کلبونو ترمنځ د اتلولۍ جام سیالۍ هم ترسره شي چې پکې به د هېواد د ۵ زونونو غوره کلبونه د یو بل په وړاندې د اتلولۍ ترلاسه کولو په موخه ولوبېږي.

dafaNEWS

BHCC
PACIFIC

NEWS

AMO

HINDUKUSH STARS

dafaNEWS

ASIF 41
KARIM 11
USMAN 87

ABDUL HADI 16
PAMIR LEGENDS

افغان ستوري ډک لاسونه هېواد ته راستانه شول

د افغانستان له ۱۹ کلنو د کم عمر لرونکو ملي لوبډله په متحده عربي اماراتو کې د سریلانکا او بنګله دېش ۱۹ کلنو ملي لوبډلو له کوربه توب وروسته هېواد ته راستنه شوه. دغه سیالۍ چې موخه یې راتلونکي اسیا او نړیوال جام ته د لوبغاړو تیاری او چمتووالی دی، افغان تنکیو ځوانانو پکې ټولټال ۹ یو ورځنۍ سیالۍ ترسره کړې چې په ترڅ کې یې ۵ لوبو کې بریا خپله کړه او یوازې ۳ سیالۍ یې وبایللې.
د افغانستان تر ۱۹ کلنو د کم عمر یاد لوبغاړي د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې له لوري تر یوه اوږده او روڼ بهیر وروسته لوبډلي ته غوره شوي. افغانستان کرکټ بورډ لومړی د ټول هېواد د پنځو زونونو په کابل، کندهار، خوست، کندز او ننګرهار ولایتونو کې ازاده ازموینه واخیسته چې د څه باندې ۵۰۰۰ لوبغاړو له ډلې لومړی ۱۰۷ لوبغاړي غوره شول.
د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې له لوري یاد لوبغاړي لومړی پر شپږو لوبډلو ووېشل شوه او د خوست په کرکټ لوبغالي کې یې د اتو ورځو په لړ کې تمریناتي سیالۍ ترسره کړې، چې له مخې یې ۳۰ لوبغاړي د ښې کارګردګۍ له مخې وټاکل شوه.
د ټاکل شویو ۳۰ لوبغاړو لپاره لومړی د ښه چمتووالي او تیاري په موخه د فبرورۍ له لسمې د مارچ تر دریمې نېټې په ننګرهار کې روزنیز کمپ نیول شوی و، چې په لړ کې یې د لوبغاړو پر بدني تکړښت، ډګرساتنې، توپ اچونې او

توپوهنې کار وشو او په پایله کې یې د یادو لوبلړیو لپاره ۲۱ هغه لوبغاړي غوره شول چې په یاد تمریناتي کمپ او له هغه وړاندې په اړوند سیالیو او کمپونو کې ښه ځلېدلي وو.
متحده عربي اماراتو ته د افغان ستورو دا سفر د مارچ میاشتې له ۹مې د اپریل تر ۴مې ترسره شو، چې د یادې میاشتې پر ۱۳مه او ۱۵مه له بنګله دېش ۱۹کلنې ملي لوبډلې سره د دوه یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ، د همدې میاشتې له ۱۸مې تر ۳۰مې یې له بنګله دېش او سریلانکا لوبډلو سره درې اړخیزه لوبلړۍ او د اپریل میاشتې پر ۲مه او ۳مه یې له سریلانکا سره د دوو یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ ترسره کړې.
افغان ستورو په لومړۍ لوبلړۍ کې له بنګله دیش سره د دوه یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ ترسره کړه چې لومړۍ سیالۍ افغان ۱۹ کلنو او دویمه یې بنګله دېش وګټله. ورپسې له یادو هېوادونو سره د یو ورځنیو سیالیو درې اړخیزه لوبلړۍ وشوه چې په ترڅ کې یې افغان ۱۹کلنو په څلورو ګروپي لوبو کې دوه له سریلانکا او یوه له بنګله دېش لوبډلو څخه وګټلې، خو پایلوبه کې یې بنګله دېش بریا خپله کړه.
افغان ستورو دریمه لوبلړۍ له سریلانکا سره ترسره کړه چې د ۰-۲ په توپیر د افغان ۱۹کلنو ملي لوبډلې په بریا سره پای ته ورسېده.

د لوبلړیو ځلېدونکي ستوري:

د افغانستان او بنګله دیش ترمنځ د دوو یو ورځنیو سیالیو د لوبلړۍ په ځلېدونکو لوبغاړو کې سهیل خان په ۱۸۸ منډو جوړولو تر ټولو مخکښه و، نوموړي لومړۍ سیالۍ کې ۱۰۰ ناسوځېدلي او دویمه سیالۍ کې ۸۸ منډې ترسره کړې وې. د توپ اچونې په برخه کې یما عرب په ۸ ویکټو د یادو سیالیو غوره توپ اچوونکی و، عرب په دواړو سیالیو کې ۴-۴ ویکټې ترلاسه کړې وې.

د بنګله دېش، سریلانکا او افغانستان د ۱۹ کلنو ملي لوبډلو ترمنځ درې اړخیزه لوبلړۍ کې هم افغان ستوري تر نورو ښه وځلېدل. د افغان ۱۹ کلنو ملي لوبډلې لوبډلمشر نعمان شاه په یاده لوبلړۍ کې تر نورو زیاتې ۲۴۴ منډې ترسره کړې او دیادې لوبلړۍ د غوره توپوهونکي جایزه یې خپله کړه. همدا راز د توپ اچونې په څانګه افغان چپ لاسي چټک توپ اچوونکي بشیر احمد افغان ۱۳ لوبغاړي سوځولي وو چې د

۵۴ منډو په بدل کې یې د ۷ ویکټو ترلاسه کول غوره توپ اچونه وه او په دې سره د یادې لوبلړۍ غوره توپ اچوونکی ونومول شو.

د افغانستان او سریلانکا ترمنځ د دوه یو ورځنیو سیالیو وروستۍ لوبلړۍ چې د ۰-۲ په توپیر د افغانستان په ګټه پای ته ورسېده، نعمان شاه پکې غوره توپوهونکی او خلیل احمد غوره توپ اچوونکی ونومول شول. نعمان د خپلې لوبډلې په ګټه ټولټال ۱۳٦ منډې ترسره کړې، چې یوه سیالۍ کې یې ۷۲ ناسوځېدلي منډې غوره توپوهنه وه. بلخوا چپ لاسي چټک توپ اچونکي خلیل احمد په ٦ ویکټو ترلاسه کولو د غوره توپ اچوونکي جایزه خپله کړه. خلیل یوې سیالۍ کې د ۳۸ منډو په ورکولو ۵ لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړي وو.

د یادوونې وړ ده چې د افغانستان تر ۱۹ کلنو د کم عمر ملي لوبډله راتلونکي اسیا او نړیوال جامونو ته د لا چمتووالي په موخه د زرغون افغانستان جام لوبو کې برخه اخلي. د افغانستان کرکټ بورډ دا ځلي یاد جام کې د افغان ستورو لوبډله زیاته کړې ده، چې د ملی او کورني کرکټ لوبغاړو له دریو لوبډلو سره به سیالۍ ترسره کړي.

FANCODE
TYKA
APRIL 2023
CHAMPIONS
ABU DHABI CRICKET & SPORTS HUB

UMPIRE

ABU DHABI

د میچ ریفري

پېژندنه، دندې، صلاحیتونه او مسوولیتونه

د کرکټ د نړیوالو سیالیو لپاره د کوربه هیواد په وړاندیز او د کرکټ نړیوالې شورا په تایید د نړیوالې ډلگۍ څلور لوبخاران ټاکل کېږي. له دې ډلې دوه په لوبغالي کې د لوبې مستقیمه څارنه کوي، دریم تلویزیوني لوبخار وي چې د سختو او پېچلو پرېکړو په اخیستو کې د لوبغالي له دوه لوبخارانو سره مرسته کوي، او څلورم احتیاطي یا ریزرف لوبخار دی چې له لوبغالي بهر د لوبغاړو د ناستې ځای تر څنگ خپله دنده مخته وړي.

د دې ترڅنگ د لوبې یو بل داسې څارونکی هم شته چې له دې څلورو لوبخارانو سره هممهاله په دنده بوخت وي، خو مسوولیتونه یې له دوی ډېر متفاوت وي، چې میچ ریفري بلل کېږي. میچ ریفري په نړیوال کرکټ کې د کرکټ د نړیوالې شورا له لوري د خپل باصلاحیته استازي په توگه ټاکل کېږي چې د سیالیو اړوند ټول ښکېل اړخونه ورته ځواب ویونکي وي، دغه راز د سیالیو د ټولو اړخونو د څار، نظارت او کنترول مسوولیت پر غاړه لري، تر څو د دې ډاډ تر لاسه کړي چې لوبې د نړیوالې شورا د قوانینو او اصولو سره سمې ترسره کېږي.

د میچ ریفري دنده د لوبو له پیله دوه ورځې وړاندې پیلېږي او په درې پړاوونو کې خپل مسوولیتونه ترسره کوي:

- د لوبې له پیلېدو وړاندې
- د لوبې په جریان کې
- د لوبلړۍ یا سیالیو له پای ته رسېدو وروسته

لومړی: د لوبې له پیلېدو وړاندې:

- **د لوبغالي کتنه یا ارزونه**

میچ ریفري د سیالیو له پیله دوه ورځې وړاندې د لوبغالي له مسول، کیوریټر (پیچ جوړوونکي) او د کوربه هیواد له ایونټ منېجر (د سیالیو عمومي مسول) سره د نورو لوبخارانو په ملتیا ناسته کوي او له هغوی سره د سیالیو په اړه خبرې کوي. دغه راز د لوبغالي هر اړخیزه ارزونه کوي، د کرکټ نړیوالې شورا له قوانینو سره سم د ټولو اړینو وسایلو د شتون ډاډ تر لاسه کوي او که د لوبغالي په کومه برخه کې نیمگړتیا شتون ولري نو د ژر تر ژره حل لپاره یې لارښوونه کوي.

- **د سیالیو له پیله وړاندې مجلسونه**

میچ ریفري د نورو څلورو لوبخارانو په ملتیا د سیالیو له پیله یوه ورځ وړاندې د اړونده لوبډلو له لوبډلمشرانو، مدیرانو او روزونکو سره ناسته کوي او هغوی ته د کرکټ د نړیوالې شورا د سیالیو قوانین(Playing Conditions) ، د کرکټ نړیوالې شورا د جزا قوانین او مقررات(ICC Code of Conducts) ، په ځنډ د اورونو ترسره کولو قوانین (ICC Slow Over Rate Rules) او د لوبې اړوند ټول مهم موارد تشریح کوي تر څو لوبې په ښه ډول او د کرکټ نړیوالې شورا له اصولو سره سمې ترسره شي.

دغه راز له سیالیو یوه ورځ وړاندې د تلویزیوني لوبخار سره یو ځای د پروډکشن (نشراتي تولید) او د پرېکړو د بیا کتنې سیستم (Decision Review System - DRS) له مسولینو سره گوري، د تلویزیوني لوبخار اړوند ټول وسایل گوري او په اړه یې ځان ډاډه کوي. د دې ترڅنگ د کامرو د شمېر په اړه معلومات ترلاسه کوي او د رن اوټ (Run Out)، سټمپ اوټ (Stump Out)، صفا کیچ (Clean Catch)، ایل بي ډبلیو (LBW) او د پرېکړو د بیا کتنې د پروټوکول (DRS Protocols) اړوند په ټولو مسایلو ځان مطمئن کوي.

دویم: د لوبې په جریان کې:

مېچ ریفري او لوبځاران د لوبې له پیلېدو یو نیم ساعت وړاندې لوبغالي ته ځان رسوي. لوبځاران لوبغالي ته له رسېدو سره سم یو ځل بیا د لوبغالي، ویشتنځای، بونډریو (پولو)، د ویشتنځای د کرښو (Crease Marks) د کره والي او د پروډکشن اړوند وسایلو څارنه کوي او د ښه والي او شتون په اړه یې مېچ ریفري ته ډاډ ورکوي.

- یوولس کسیز نوملړ او د لوبې پچه (ټاس)

د لوبې له پیلېدو نیم ساعت وړاندې دواړه لوبډلمشران د خپلو لوبډلو یوولس کسیز نوملړونه مېچ ریفري ته ورکوي او د لوبې پچه اچول کېږي، چې ریفري یې مستقیمه څارنه کوي.

- د لوبځارانو د پرېکړو ارزونه

مېچ ریفري د لوبې له شروع کېدو څخه تر پایه د لوبغالي د دوه لوبځارانو او تلویزیوني لوبځار د پرېکړو (ایل بي ډبلیو (LBW)، کیچ اوټ (Catch Out)، رن اوټ (Run Out)، بای (Byes)، لیګ بای (Leg Byes)، وایډ (Wide)، نوبال (No Ball)، بیمر (Beamers) او د اوچتو بالونو (Bouncers)) ارزونه کوي. د کرکټ نړیوالې شورا په ځانګړو فورمو (Log Sheet) کې د سمو او ناسمو پرېکړو اړوند تفصیل لیکي چې د سیالۍ له پای ته رسېدو سره سم یې یادې شورا ته لېږي. د دې ترڅنګ له لوبې وروسته د لوبځارانو سره هم ناسته کوي چې په ترڅ کې له هغوی سره د سمو او ناسمو پرېکړو تفصیل شریکوي.

- کنکشن بدیل (Concussion Replacement)

که د سیالۍ پر مهال کوم لوبغاړی له غاړې پورته برخه کې ټپي شي نو د لوبډلې مدیر او ډاکټر د ټپي شوي لوبغاړي ټوله ستونزه په یوه ځانګړې فورمه کې په لیکلي بڼه له مېچ ریفري سره شریکوي او د یو بل بدیل لوبغاړي وړاندیز ورته کوي. مېچ ریفري د لوبغاړي ستونزه ګوري، که د سر یا غاړې په کومه برخه کې ټپ ولري او روغتیايي وضعیت یې د بیا لوبېدو جوګه نه وي نو مېچ ریفري یې پرځای د بدیل لوبغاړي لوبېدل تاییدوي او اجازه ورکوي چې مېچ ریفري بیا د لوبې په پای کې یاده فورمه له یوه تفصیلي راپور سره په ځانګړي لاګ شیټ کې د کرکټ نړیوالې شورا لېږي.

- د سرغړونو لپاره د سزا ټاکنه (Taking Disciplinary Actions)

که د سیالۍ پر مهال هر لوبغاړی د کرکټ نړیوالې د جزا له قوانینو سرغړونه وکړي نو د لوبغالي لوبځاران یې په اړه سمدلاسه مېچ ریفري ته خبر ورکوي. د لوبې په پای کې یاد لوبځاران په لیکلي بڼه د پیښې بشپړ راپور مېچ ریفري ته سپاري، مېچ ریفري د پېښې له پلټلو وروسته د یاد لوبغاړي د سرغړونې کچه مالوموي او سزا ورته ټاکي، چې د اړونده لوبډلې د مدیر او لوبځارانو په شتون کې ورته اعلانېږي. د لوبغاړي له قناعت او سزا منلو وروسته مېچ ریفري د یادې پېښې بشپړ راپور له کرکټ نړیوالې سره شریکوي چې هغوی یې بیا د رسنیو له لارې نشروي.

- د بیټ د اندازې ارزونه

د لوبې له پیلېدو وړاندې څلورم لوبځار د دواړو لوبډلو د مدیرانو سره په شریکه د لوبغاړو د بېټونو ارزونه کوي او د سم او ناسم په اړه یې په یوه ځانګړې فورمه کې مېچ ریفري ته راپور ورکوي. مېچ ریفري د ناسمو بېټونو د نه استعمال په اړه د لوبډلې مدیر او لوبغاړی خبروي او د فورم له ضمیمې سره یې راپور د کرکټ نړیوالې شورا ته استوي.

- د توپ اچوونکي د غیر قانوني بالینګ اکشن پر وړاندې غبرګون او پرېکړه

که د سیالۍ پر مهال کوم توپ اچوونکی د توپ اچونې غیر قانوني اکشن ولري نو لوبځاران یې په اړه مېچ ریفري ته راپور ورکوي. مېچ ریفري یې بیا د ټولو اړخونو ویډیو او انځورونه د کرکټ نړیوالې شورا ته لېږي چې د اړوند تخنیکي کمېټې تر هر اړخیزې ارزونې وروسته یې په اړه پرېکړه کېږي.

- د تبعیض ضد پالیسي پلي کول

د تبعیض پر وړاندې د مبارزې پالیسي په ټولو نړیوالو سیالیو کې پلي کېږي. مېچ ریفري د سیالیو پر مهال د تبعیض ضد راپور جوړوي او د کرکټ نړیوالې شورا ته یې لېږي. دا کړنه د دې لپاره ترسره کېږي چې ډاډ ترلاسه شي ترڅو د سیالۍ پر مهال د توکمیز، ژبني، معلولیت، جنسیت او یا مذهبي تبعیض کومه پېښه نه وي رامنځته شوې.

- د ویشتنځای (پیچ) راپور

مېچ ریفري د لوبې له پای ته رسېدو وروسته د ویشتنځای په اړه د کرکټ نړیوالې شورا ته راپور ورکوي چې په کومه کچه جوړ شوی و، سوینګ (ښي او چپ اړخ ته د بال مایلېدل)، بریک (ښي او چپ اړخ ته د بال څرخېدل)، او باونس (د بال اوچتېدل) یې څنګه وو؟ د توپ وهونکو لپاره خو خطرناک نه وو؟ د لوندوالي کچه یې څومره وه؟ ایا د لوبې تر وروستیو یې بڼه یو ډول پاتې شوه؟ دغه راز د لوبغالي اوټ فیلډ یا د لوبغالي سطح یې څه ډول وه؟

- د لوبځارانو ارزونه

مېچ ریفري د سیالۍ په پای کې د لوبغالي د لوبځارانو او تلوېزیوني لوبځار د فزیکي حالت، د لوبې د مدیریت، مثبتو او منفي اړخونو، له لوبغاړو سره چلند، په قوانینو د پوهې کچه، د قوانینو پر وخت د پلي کولو، د پرېکړو کره والي، د فشار کنټرولولو، له مېچ ریفري او نورو لوبځارانو سره د مکالمې او مفاهمې، له دواړو لوبډلو سره د یو ډول چلند، د وخت د پابندۍ، لباس، اړونده وسایلو، له خپل همکار سره د مرستې او نورو اړونده کړنو ارزونه کوي او په یوه ځانګړې فورمه کې نمرې ورکوي چې بیا یې په اړه د کرکټ له نړیوالې شورا سره تفصیلي راپور شریکوي.

- د اوور ریټ مدیریت او په اړه یې پرېکړې (Over Rate Management)

که د لوبې په جریان کې د اوور ریټ (Slow Over Rate) ستونزه پیدا کېږي، په بل عبارت، که یوه لوبډله د توپ اچونې پر مهال په ټاکل شوي وخت کې خپل اوورنه بشپړ نکړي او یا له ټاکلي وخت زیات وخت مصرف کړي نو تلویزیوني لوبځار یې په لیکلې بڼه مېچ ریفري ته راپور ورکوي. مېچ ریفري د اړونده لوبدلې لوبډلمشر او ټوله لوبډله له قانون سره سمه جریمه کوي او راپور یې د کرکټ نړیوالې شورا ته لېږي.

دغه راز مېچ ریفري له لوبې وروسته د دواړو لوبډلو مدیرانو ته، پر لوبځارانو د لوبډلمشر د راپور فورمه ورکوي، لوبډلمشر د لوبې په جریان کې د لوبځارانو د کړنو او پرېکړو په اړه خپل نظر پکې لیکي او بېرته یې مېچ ریفري ته تسلیموي چې مېچ ریفري یې بیا د کرکټ نړیوالې شورا ته لېږي.

یادونه:

د کرکټ نړیواله شورا د مېچ ریفریانو لپاره د لوبو اړوند د معلوماتو د مدیریت او خوندیتوب یو ځانګړی او وسیع سیستم لري چې (مېچ انفارمېشن ډېټا سیستم – Match Information Data System) نومېږي او هر مېچ ریفري پکې خپل یوزر لري. پورته ذکر شوي ټول راپورونه باید د مېچ ریفري له لوري د لوبې له پای ته رسېدو تر راتلونکو ۴۸ ساعتونو پورې درج شي.

دریم: د لوبلړۍ له پای ته رسېدو وروسته

مېچ ریفري د لوبلړۍ یا سیالیو له پای ته رسېدو وروسته د کوربه هېواد د کوربه توب اړوند یو بشپړ او هراړخیز راپور چمتو کوي چې پکې ټول اړخونه تر پوښښ لاندې نیسي او بیا یې د کرکټ نړیوالې شورا ته لېږي ترڅو یاده شورا په دې ډاډه شي چې ټول خدمات په لوړ معیار او غوره ډول ترسره شوي دي.

په دې راپور کې د لوبغاړو او تخنیکي کارمندانو لپاره د اوسېدو د لوړ معیاري هوټل، لوبغالي ته د تګ راتګ لپاره د هوسا وسایطو د شتون، د غوره، صحي او معیاري خواړو، پر وخت د ورځنیو مصارفو د ورکړې، د طبي وسایلو، د لوبغاړو، لوبڅارانو او مېچ ریفري له وسایطو سره د محافظتي ډلګۍ ، د مجالسو لپاره د هوسا میټینګ هال یا صالون، په لوبغالي کې د کافي اندازه محافظینو، د لوبډلو او څارونکو سره د لیزن یا د اړیکو افیسر، د لوبغاړو لپاره د تمرین غوره ځای، د اسانتیاوو او امکاناتو، د غوره او معیاري ویشتنځایونو، څراغونو او سایډ سکرینونو، د نمرو شمېرنې برقي او لاسي بورډونو، د لوبڅارانو او لوبغاړو د ناستې لپاره د پاکو، هوادارو او د غوره امکاناتو لرونکو خونو، د لوبغالي د ټولو اړخونو د لیدلو په موخه د مېچ ریفري لپاره د غوره او معیاري خونې، دغه راز د وایفای، ټیلیفون او سکرین، د تلویزیوني لوبڅار لپاره د روغو مایکونو، سکرین او مخابرو، د لوبې لپاره د معیاري نویو او زړو بالونو، د نندارچیانو لپاره د ناستې غوره ځایونو، د نارینه او ښځینه لپاره د جلا تشنابونو، د معیوبینو، کمزورو او سپین ږیرو لپاره د اسانتیاو او خدماتو، په لوبغالي کې د تبعیض ضد پوسټرونو، ستونزو ته پروخت د سیالیو د عمومي مدیر د رسیدنې، د لوبو وړاندې او وروسته پر وخت ټکټونو او هوایي ډګر ته د تلو او راتلو لپاره وسایطو د شتون او موجودیت په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کوي.

یادونه: دا راپور باید د د سیالیو له پای ته رسېدو وروسته د لسو ورځو په جریان کې د مېچ ریفري له لورې چمتو او د کرکټ نړیوالې شورا ته ولېږل شي، د کرکټ نړیواله شورا یې بیا منفي ټکي له اړونده کوربه هېواد سره شریکوي او په راتلونکي کې یې ورته د نه تکرار هدایت او لارښوونه کوي.

د یادونې وړ ده چې مېچ ریفري باید د کرکټ مسلکي لوبغاړی تېر شوی وي، له کمپیوټر او انګلیسي ژبې سره پوره بلدیت او د مفاهمې او مکالمې غوره وړتیا او استعداد ولري او د کرکټ پر ټولو قوانینو پوه، او پرې پوره حاکمیت ولري.

د توپ اچونې ډګر کې د افغان ستورو د نوي سلطنت پیل

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې دوه ستوري لوبغاړي راشد خان او فضل الحق فاروقي د کرکټ نړیوالې شورا له لوري د شل اوریزو سیالیو په وروستۍ درجه بندۍ کې لومړی او دویم مقام راغلي دي.
راشدخان چې له وروستیو څلورو کلونو راهیسي په لومړي او دویم مقام کې و اوس یې بیرته یاد مقام خپل کړی خو دا لومړی ځل دی چې د افغانستان ملي لوبډلې یو چټک توپ اچوونکی فضل الحق فاروقي په یاده درجه بندۍ کې دویم مقام ته راځي.
همدا راز مجیب الرحمن په یاده درجه بندۍ کې ۹م مقام ته راغلی دی.
د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې پیاوړي توپ اچوونکي او لوبډلمشر راشد خان له ۲۰۱۵م اکتوبر میاشتې راهیسي د خپل هېواد په ګټه ۸۰ نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړې او ۱۲۹ ویکټې یې ترلاسه کړي. په دې کارنامې سره په نړیوال شل اوریز کرکټ کې راشد خان له شکیب الحسن او تیم ساوتي وروسته د نړۍ دویم مخکښ ویکټ اخیستونکی لوبغاړی دی. باید وویل شي چې راشدخان په وروستیو ۲۲ پاټیو کې له ۲۱.۸۷ اوسط سره ۲۴ لوبغاړي سوځولي او له همدې امله د کرکټ نړیوالې شورا په وروستۍ درجه بندۍ کې بیرته خپل لومړي مقام ته راغلی دی.
همدارنګه د افغان کرکټ ملي لوبډلې ځوان توپ اچوونکي فضل الحق فاروقي د افغانستان لپاره

لومړۍ نړیواله شل اوریزه سیالۍ په ۲۰۲۱م کال کې د زمبابوې پر وړاندې ترسره کړې چې تراوسه یې ټولټال ۲۲ نړیوالې لوبې کړې او ۲۶ ویکټې یې ترلاسه کړې دي. نوموړي په یادو سیالیو کې له ٦.۳۹ غوره اقتصادي او ۱۹.۳ سټرایک ریټ توپ اچونه کړې او د سریلانکا پر وړاندې یې د ۱۱ منډو بدل کې د ۳ ویکټو ترلاسه کول غوره توپ اچونه ده.
د کرکټ نړیوالې شورا د شل اوریزه سیالیو د وروستۍ درجه بندۍ په لس غوره توپ اچوونکو کې راشدخان په ۷۱۰ امتیازونو لومړی، فضل الحق فاروقي په ٦۹۲ امتیازونو دویم، جوش هزلیووډ په ٦۹۰ امتیازونو دریم، ونندو هسرنګا په ٦۸٦ امتیازونو څلورم، مهېش تیکشانا په ٦۸۴ امتیازونو پنځم، عادل رشید په ٦۸۴ امتیازونو شپږم، ادم زامپا په ٦۷۸ امتیازونو اووم، سم کرن په ٦۷۳ امتیازونو اتم، مجیب الرحمن په ٦٦۸ امتیازونو نهم او انریچ ناکې په ٦٦۷ امتیازونو لسم مقام کې راغلي دي.
د یادوونې وړ ده چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دریو شل اوریزو سیالیو وروستۍ لوبلړۍ ۱-۲ د افغان کرکټ ملي لوبډلې په بریا پای ته ورسېده. په یاده لوبلړۍ کې فضل الحق فاروقي د ۴.۷۵ اوسط او راشد خان د ۵.۱٦ اوسط غوره توپ اچونې له امله د کرکټ نړیوالې شورا په شل اوریزه درجه بندۍ کې مخکې تګ کړی چې په لومړي او دویم مقام کې راغلي دي.

AFGHANISTAN FUTURE TOUR PROGRAM 2023

DATE	TEST	ODI	T20I	VENU
JUN-JUL	2	3	3	AWAY
JUL-AUG	2	3	3	HOME
AUG	0	0	3	HOME
SEP	0	TBC	0	AWAY
SEP	0	3	0	HOME
OCT-NOV	0	TBC	0	AWAY

د کرکټ نړيوالې شورا د راتلونکو سفرونو پروګرام له مخې د افغانستان راتلونکې سيالۍ

د کرکټ نړيوالې شورا څه موده وړاندې د راتلونکو څلورو کلونو لپاره د راتلونکو سفرونو پروګرام (Future Tours Program - FTP) اعلان کړ چې له مخې به يې افغانستان د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۷ کلونو ترمنځ موده کې د بېلابېلو لوبډلو پر وړاندې ۲۱ ټېسټ، ۴۵ نړيوالې يو ورځنۍ او ۵۷ نړيوالې شل اوريزې سيالۍ ترسره کړي.

د کرکټ نړيوالې شورا له اعلان شوي مهالوېش سره سم به په ياده موده کې افغان کرکټ ملي لوبډله له ايرلينډ سره څلور او له زمبابوې سره درې لوبلړۍ ترسره کړي. دغه راز به افغان لوبډله د هند، نيوزيلنډ او اسټراليا په څېر د کرکټ نړۍ له سترو او پياوړو لوبډلو سره هم لوبلړۍ ترسره کړي.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډله به د ياد پروګرام له مخې خپلې سيالۍ د روان ۲۰۲۳م کال په جون مياشت کې بنګله دېش ته په يوه بشپړ سفر پيل کړي چې پکې له کوربه لوبډلې سره دوه ټېسټ، درې يو ورځنۍ او درې شل اوريزې سيالۍ ترسره کړي. له دې وروسته به د روان کال په ترڅ کې د افغانستان کرکټ بورډ د بېلابېلو سياليو لپاره زمبابوې، پاکستان او ويسټ انډيز لوبډلو کوربتوب وکړي، دغه راز به افغان لوبډله د روان کال په سپټمبر مياشت کې اسيا جام او د اکټوبر او نومبر مياشتو په ترڅ کې د کرکټ نړيوالې شورا د ۲۰۲۳م کال په نړيوال جام سياليو کې هم ګډون وکړي.

د راتلونکو سفرونو پروګرام له مخې به تر راتلونکي ۲۰۲۷م کال پورې د افغانستان کرکټ ملي لوبډله تر ټولو زياتې (۵) ټيسټ لوبې له زمبابوې سره ترسره کړي، هغه لوبډله چې به ورسره افغان اتلان په يادو موده کې په ۱۲ نړيوالو يو ورځنيو او ۱۲ نړيوالو شل اوريزو سياليو کې هم مخ شي. د دې ترڅنګ به افغان لوبډله په دغه موده کې له ايرلنډ سره څلور ټېسټ، ۱۲ نړيوالې يو ورځنۍ او ۱۰ نړيوالې شل اوريزې سيالۍ ترسره کړي. دغه راز به د دغه پروګرام له مخې افغان لوبډله اسټراليا، هند او نيوزيلنډ ته سفرونه وکړي او هم به په بېلابېلو پړاونو کې د دغو لوبډلو کوربتوب وکړي.

د افغانستان کرکټ بورډ د کرکټ نړيوالې شورا د راتلونکو سفرونو د اعلان شوي نوي پروګرام هرکلی کوي او خوښ دی چې د کرکټ نړيوالې شورا د راتلونکي سايکل لويه برخه تشکيلوي. د افغانستان لپاره د ټېسټ لوبو زياتوالی د افغانستان د کرکټ لپاره ښه زېری دی ځکه چې د ټېسټ کرکټ سياليو زياتوالی په افغانستان کې د کرکټ لوبې په وده او د لوبغاړو په پياوړتيا کې اغېزمن رول لوبوي.

له دې وړاندې د افغانستان کرکټ بورډ تل له سترو لوبډلو سره د لوبو غوښتنه کړې ده. په همدې موخه د افغانستان کرکټ بورډ چارواکو د بنګله دېش، سريلانکا او هندوستان په ګډون ګڼ شمېر هېوادونو ته سفرونه وکړل او دغه راز يې د کرکټ نړيوالې شورا په بېلابېلو غونډو کې له نورو بشپړ لرونکو هېوادونو غوښتنه وکړه، ترڅو له افغانستان سره لوبې ترسره کړي.

د افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی چې له نورو ډېرو هېوادونو او کرکټ بورډونو سره د لا ډېرو نړيوالو دوه اړخيزو سياليو په برابرولو کې خپلې هڅې جاري وساتي ځکه چې د نورو هېوادونو پر وړاندې دوه اړخيزې سيالۍ د افغانستان د کرکټ په تخنيکي او مالي برخو مثبته اغېزه لري. د يادونې وړ ده چې يادې سيالۍ د روان ۲۰۲۳م کال په جون مياشت کې پيلېږي چې ورسره به د ۲۰۲۷ کال تر مارچ مياشتې پورې دوام ومومي.

#AFGHANATALAN

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۲م کال کلنی راپور چاپ شو

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۲م کال د فعالیتونو راپور چاپ شو چې پکې د افغانستان کرکټ بورډ د ټولو اداري څانګو فعالیتونه او لاسته راوړنې، چې تېر کال په ترڅ کې یې ترلاسه کړې دي، شامل دي. په دغه راپور کې د نړیوال کرکټ په ترڅ کې د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې د ټولو نړیوالو سفرونو، د کورنې کرکټ ټولو سیالیو په اړه معلومات وړاندې شوي دي.

دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ اداري د مالي، بازارموندنې، رسنیو، معلوماتي ټکنالوژي، انجینري، حقوقي، بشري سرچینو، تدارکاتو، لوجستیک او اداري څانګې د فعالیتونه شامل دي.

د دې ترڅنګ د لوبغاړو د غوراوي کمېټې، د لوړو مهارتونو د مرکز، د فساد ضد څانګې، ډسپلین او انظباتي کمېټې د کړنو او فعالیتونو شامل هم شامل دی.

سربېره پر دې په یاد راپور کې د افغانستان کرکټ بورډ د عمومي رییس ښاغلي میرویس اشرف او اجراییوي رییس ښاغلي نصیب خان پیغامونه، په ۲۰۲۲م کال کې د افغانستان د کرکټ د عمومي لرلید، په یاد کې د شته ننګونو او د ۲۰۲۳م کال لپاره راتلونکو پلانونو په اړه پکې مفصل معلومات وړاندې شوي دي.

دغه راپور په انګلیسي ژبه په ۱۰۸ مخونو کې په لنډ سکېپ بڼه چاپ شوی دی چې د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې له لوري لیکل شوی چې د ډیزاین چارې یې هم یادې څانګې په غاړه درلودې.

بریا د ټولو هیله، د درې میاشتنۍ مجلې لوستونکو هیله ده بشپړه روغتیا به مو په برخه وي. موږ دا ځلي د دغې ګڼې لپاره د افغانستان د ۱۹ کلنو کم عمره لرونکو لوبډلې له ځوان او راتلونکي ستوري وفي الله تره خېل سره مرکه کړې ده. وفي الله په دې وروستیو کې د ازادۍ سیالۍ او ازموینو له لارې د ۱۹ کلنو کم عمر لرونکو ملي لوبډلې ته لاره موندلې ده. نوموړي د افغانستان او سریلانکا ترمنځ د ۱۹ کلنو په وروستۍ لوبلړۍ کې غوره توپوهنه ترسره او د افغان لوبډلې په بریا کې یې لویه ونډه ادا کړه، په همدې اړه مو د نوموړي د ژوند، کرکټ، او راتلونکي پلانونو په تړاو له وفي الله تره خېل سره مرکه کړې ده چې تاسو یې لوستلو ته رابولو:

لومړۍ پوښتنه: وفي الله ښه راغلاست درته وایو، لومړی که د کرکټ مینه والو ته ځان ورمعرفي کړې؟
ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم. مننه لومړی تاسو او بریا د ټولو هیله مجلې لوستونکو ته خپل سلامونه او نېکې هیلې وړاندې کوم. نوم مې وفي الله تره خېل دی، په ۲۰۰۶م کال کې د لغمان ولایت په قرغیو ولسوالۍ کې زېږېدلی یم. د الله ج ډېر شکر ادا کوم چې په دې وروستیو کې مې د افغانستان تر ۱۹ کلنو د کم عمر لرونکو لوبډلې ته لاره پیدا کړې او د بنګله دېش، سریلانکا او افغانستان ترمنځ وروستۍ لوبلړۍ کې مې ښې لوبې وکړې.

دویمه پوښتنه: د کرکټ تر څنګ دې زده کړې هم کړې او که نه، که د خپلو زده کړو په اړه راته وغږېږې؟
ځواب: هو ما خپلې لومړنۍ زده کړې د ننګرهار په میا عمر عالي لیسه کې تر ۱۲م ټولګي پورې ترسره کړې. زه په خپل ټولګي کې له ۱۲م څخه په ٦م نمره فارغ سوی یم. دا زما د زده کړو پای نه دی غواړم لوړې زده کړې هم وکړم که چېرې وخت لخیره اجازه راکړه نو د خپلې خوښې اسلامي ادبیاتو پوهنځی لولم.

دریمه پوښتنه: د کرکټ پیل مو څنګه وشو کله او له څه اغېزمن شوی چې بلاخره تر ۱۹ کلونو ملي لوبډلې ورسېدې؟
ځواب: زه ډېر کوچنی وم لږ لږ مې یادېږي چې د کورنۍ نورو غړو به مو ټلویزیون باندې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې لوبې کتلې او کله به یې پر راډیو اورېدلې، فکر کوم هغه وختونو کې د دوی ځلېدل او دلته په هېواد کې له دوی سره د خلکو مینه هغه څه و چې زه یې هم له کرکټ سره اشنا کړم او دا فکر راپیدا شو چې باید په راتلونکي کې د هېواد لپاره یو ښه لوبغاړی واوسم. نو الحمدلله اوس په دې مزل کې یو قدم مخکې تللی یم او هغه خوبونه چې زه یې د خپل هېواد او خپل کرکټ لپاره لرم ان شاء الله یو ورځ به یې په رښتیا بدلوم.

څلورمه پوښتنه: د پیلیز لوبغاړي په توګه خپلې لوبډلې ته ښه پیل ورکول سخت دی، تاسو څنګه دا سختي ته اوږه ورکړه او واقعاً هم درته سخته ده یا ډېر اسانه؟
ځواب: هر لوبغاړی چې کله د پیلیز لوبغاړي په توګه لوبغالي ته ښکته کېږي، د هغه دا دنده او مسوولیت وي چې خپلې لوبډلې ته ښه او غوره پیل ورکړي. زه مخکې د یو لیګ بریکر توپ اچوونکي په توګه لوبېدم، خو کله چې به مې توپوهنې ته نوبت راورسېده، بیا به ملګرو راته ویل چې ته په دې برخه کې ډېر غوره یې، باید مخکې او په پیل کې توپوهنه وکړې نو ځکه اوس د پیلیز لوبغاړي په توګه لوبېږم. بېشکه دا یو لوی او سخت کار دی، خو ما له کوچنیوالي پر دې برخه نهایت زیات کار کړی او خواري ایستلې ده، ځکه خو په پیل کې د هر سخت توپ اچوونکي پر وړاندې مبارزه کوم او په دې ځانګه کې بریالی او کامیاب ثابت شوی یم.

پنځمه پوښتنه: د توپوهنې له کوم انداز څخه ډېر خوند اخلې، یوه او دوه منډې جوړول او سټرایک بدلول یا بریدګره لوبه چې بونډرۍ ولري؟
ځواب: په توپوهنه کې د هر لوبغاړي خپل انداز وي، خو زه له بریدګرې توپوهنې خوند اخلم ځکه هم مې خپله مینه ده او هم باید خپلې لوبډلې ته یو ښه او غوره پیل ورکړم. زما په نظر دا د یوې او دوو منډو جوړولو په پرتله یو سخت کار او سخت مسؤلیت دی ځکه چې کله هم ته د وهلو او برید په حالت کې یې، طبعي خبره ده د سوځېدو امکان دې زیات وي نو یو او دوه منډې جوړول تر بریدګرې توپوهنې اسانه دي.

شپږمه پوښتنه: هر لوبغاړی ځان ته یو ایډیال لري داسې څوک چې د هغه لوبه ډېره تعقیبوي تاسو کوم لوبغاړی ډېر څاری چې زیات مو خوښېږي؟
ځواب: هر لوبغاړی او مینه وال چې کومه لوبه څاري یا ترسره کوي نو حتمي ده چې یو د خوښې لوبغاړی پکې لري او د هغه له لوبې خوند اخلي، له کوم وخت راهیسې چې زما له کرکټ سره مینه پیدا شوې د سویلي افریقا نامتو توپوهونکی اې بي ډیویلیرز مې تعقیب کړی او د هغه له لوبو او هسکو شپږیزو خوند اخلم، په ځانګړي ډول کله چې اې بي د ویسټ انډیز پر وړاندې په ۳۱ توپونو چټکه سلیزه جوړه کړه، زه یې سخت اغېزمن کړم. په دې هیله چې یو ورځ راشي لکه څرنګه چې اې بي د خپل

له ځوان لوبغاړي

وفي الله تره خیل

سره ځانګړې مرکه

هېواد لپاره ویاړونه ترلاسه کړي، همداسې زه هم د خپل ګران هیواد افغانستان لپاره بیساري لاسته راوړنې او ویاړونه راوړم.

اوومه پوښتنه: وفي الله خانه ستاسو په نظر یو ځوان باید څه وکړي چې تاسو غوندې تر ملي لوبډلو ولاړ شي؟
ځواب: زه فکر کوم څومره وړتیاوې او استعدادونه چې افغانستان کې شته او زه یې په لوبغالو او روزنیزو اکاډمیو کې ګورم بېساري دي، خو یوه خبره ده چې له هرڅه وړاندې دوی ته محنت او خواري کول په کار دي، په ځانګړي ډول هغه لوبغاړي چې د خپل هېواد لپاره د لوبېدو ارمانونه او خوبونه لري. د دوی څخه زما هیله همدا ده چې زیات زحمتونه وباسي او که چېرې هم دوی خپلې خوارۍ وکړې او ماتې ته تسلیم نه شول، نو لېرې نه ده چې د هېواد ملي لوبډلو ته به لاره ومومي.

اتمه پوښتنه: یو اوپنر یا پیلیز لوبغاړی باید پر کومو اړخونو ډېر کار او تمرکز وکړي څو بریالی ثابت شي؟
ځواب: که چېرې کوم پیلیز توپوهونکی چې غواړي په خپله یاده ځانګه کې بریالی واوسي او د خپلې لوبډلې لپاره ښه پیلوونکی وي نو د چټکو، این او اوټ سوینګ کېدو پر توپونو لوبولو دې کار وکړي که د یادو توپونو په ښه ډول لوبولو باندې بریالي شول او دا یې د توپوهنې پیاوړي ټکي شول نو یقیناً دوی بریالي پیلیز لوبغاړي دي.

نهمه پوښتنه: له ۱۹ کلنو د کم عمره لوبډلې ته راغلې او دا دی ځینې لوبې مو هم وکړې، نورې څه هیلې لرې؟
ځواب: هو د الله تعالی ډېر شکر ادا کوم چې ۱۹ کلنه ملي لوبډله کې مې د خپل هېواد استازیتوب وکړ او ښې سیالۍ مې ترسره کړې. هیله او لوی هدف مې دا دی چې هغه ورځ هم ووینم، ترڅو د خپل هېواد د ملي لوبډلې لباس په تن کړم او لوبغالي ته د یو پیلیز توپوهونکي په توګه ښکته شم. دا چې تر ۱۹ کلونو ملي لوبډلې رسېدلی یم، زه ډېر باوري یم چې هغه ورځ به راځي چې د راشد خان او نورو ملي ستورو په څېر ملي اتل جوړ شم.

لسمه پوښتنه: له کرکټ ور هاخوا په کومو کارونو بوخت یې او څه سره مو مینه ده؟
ځواب: که رښتیا ووایم د کرکټ څخه پرته خو زه بل هیڅ کاروبار نه لرم او نه مې بل کسب سره مینه شته، ځکه کرکټ سره ډېره مینه لرم، سهار ځم اکاډمۍ/روزنتون ته نو تر ماښامه هلته خپل تمرینات کوم، له همدې امله غواړم همدا مینه وپالم او همدې برخه کې خپلو هیلو ته ورسېږم.

یوولسمه پوښتنه: که په پای کې (بریا د ټولو هیله) مجلې لوستونکو ته کوم پیغام لرې نو مهرباني؟
ځواب: لومړی له تاسو ډېره زیاته مننه چې له موږ سره مو د زړه خواله وکړه. بریا د ټولو هیله مجلې درنو لوستونکو ته مې دا پیغام دی چې تل د خپلو ملي اتلانو ملاتړ وکړي، ځکه د دوی ملاتړ او تشویق هغوی ته ډېره مثبته انرژي او روحیه ورکوي، ترڅو د خپل هېواد لپاره بریاوې او ویاړونه راوړي. که موږ او تاسو چېرې د لوبې په ګټلو خوشالېږو نو لوبغاړي پرې دوه برابره خوشالېږي، که موږ او تاسو څومره د لوبې په بایللو خپه کېږو نو دوی زموږ او ستاسو څو برابره خپه کېږي. هیله ده په هر حالت کې د خپلو ملي لوبغاړو ملاتړي واوسو. مننه!

AFGHANISTAN BORN-FORMER INDIAN TEST CRICKETER DIED AGED 88

Salim Aziz Durrani (1934 – 2023) was an Afghanistan-born Indian cricketer who represented India in 29 Test matches from 1960 to 1973. He is the only Indian Test cricketer to have been born in Afghanistan.

He was living with his brother Jahangir Durrani in Jamnagar, Gujarat. Durrani had undergone proximal femoral nail surgery after he broke his thigh bone in a fall in January this year.

Durrani was an aggressive left-handed batter and a left-arm spinner, famous for his six-hitting prowess, scoring 1202 runs and taking 75 wickets.

He was best remembered for that magical spell that helped India to their first Test win in the West Indies in 1971, which is also remembered for Sunil Gavaskar's Test debut. In the space of a few balls, Durrani had dismissed Clive Lloyd and Garry Sobers - the latter for a duck - at a crucial time in the second innings in Port of Spain for India's seven-wicket win. Durani conceded just 21 runs in the 17 overs he bowled.

Ten years before this Test, he bowled India to victory against England in 1961-62, successively taking eight and ten wickets in Kolkata and Chennai respectively. He was the highest wicket-taker in the series with 23 scalps from nine innings, in what was only his second Test series.

Born in Kabul in 1934, Durani had created a special rapport with the spectators with his aggressive style of batting and acquired the reputation of hitting sixes on demand. He scored one Test century, against West Indies in Port of Spain in 1962. He played his last Test in February 1973 against England at the Brabourne Stadium, where he had also made his debut in 1960, and finished with a batting average of 25.04.

Durrani also had an instrumental FC career as he featured in 170 First Class matches, in which he 8545 runs at 33.37 with 14 centuries and 45 half-centuries to his name. At the same time, he took 484 wickets at 26.09 with 21 5-wicket and 2 ten-wicket hauls.

Durrani also had an incredible FC career as an all-rounder, as he appeared in 170 First Class matches and scored 8545 runs at 33.37 with 14 centuries and 45 half-centuries. Meanwhile, he took 484 wickets at 26.09, including 21 5-wicket hauls and two ten-wicket hauls.

Many cricket boards, including the BCCI, ACB, and others, as well as many prominent personalities, including India's Prime Minister Narendra Modi and numerous cricket notables from around the world, have expressed their sorrow over his death.

#AFGHANATALAN

#FUTURESTARS

Afghanistan Cricket Board
Kabul International Cricket Ground
Near Chaman-e- Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan